# مړې ډيوې

## اوبو وړې هيلې

ملا اسدالله «حنيفی»

# مرپ دیوی

## اوبو وړې هیلې

ملا اسدالله «حنیفی»

# دکتاب پیژندنه


نوم : مړې ډیوې او اوبو بوورې هیلې

شاعر : ملا اسدالله «حنیفی»

کمپیوتر : مرکز نشراتی اسلامی (صبور)

گل حاجی پلازه ارباب رود پشاور اطاق ۱۲۲

شمیر : زر توګه

دمیندلو ځای: دانش کتابخانه دهکی نعلبندی او

سبا کتابفروشی رحمت مارکیټ دقصه خوانی ترشا

د خپریدولو کال : ۱۳۷۳ هـ ش

چاپ : اول ځل

PROPERTY
ACKU
5556

بسم الله الرحمن الرحيم

UNOCAL

# اهداء

دخپل ځوانی مرګ شهید ورور

طالب العلم نجیب الله (صدیقی)

سپیخلي روح ته

(حنیفی)

یکشنبه ۱۳۷۳/۶/۱۳ هـ ش

# شعرندي داخوناب دزخمي زره دي

«حميد بابا»

که شعردڅفند تصوراوتفسيرکنونودرانه وروراسدالله حنيفي بي ډيره ښه انځورنه اوتفسيرکړيدي -سناغلي حنيفي که پرون جنګ ته قهرماني اودغه قهرمانانودتوري اوميراني ستاينه کوله خونن جګړې ته دکرکې اونفرت په سترګوګوري اوپخپل شعرکي يې ددغه چګړې دغندني او مخالفت احتجاج ته ډير ښه ځاي ورکړيدي .

داسي نه چي پرون يې څه ويلي نن يې دهغې په مخالفت کي غږيورته کړي بلکي حقيقت دادي چي پروني جګړه له خپلي ټولي بربادي اوتباهي سره ډيوه سپيڅلي ارمان لپاره وه چي دپردې پوځي او ايډيو لوژيک يرغل په وراندي ډيوه ملي مقاومت په ښه رامنځ ته شوه -داسمه ده چي لدي جګړې څخه د افغانانو پر ځاي نورودير څه ترلاسه کړي شول او له افغاناتو سره ددوي پراوږه دتو پک ايښودلو کانه و شوه او نتيجه يې له هغې هم ډيره دردوونکي راووتله -خو داپره اودا دردوونکي فاجعه پردغه مقاومت دهغو تپل شويواو بي کفايته زعا متونو ده چي د سيا سي لو بو په ډګرکي يې دخپلو شخصي اغراضو په داوکي دولس په قربانيو او عظمت شرميدلي معاملي اوسوداګري وکړي او نن هغه ټولي قرباني او قهرماني چي سناغلي حنيفي او ډيرونورو شاعرانو دخپل ولس دسترو ارمانونو دتقدس له مخي پخپلو دردیدلوترانو کي رانغښتلي دادي د دوي په وراندي داقتدار له هوس څخه قرباني کيږي چي سناغلي حنيفي دغه حقيقت ته ډير ښه متو جه شوي :

زما عظمت دي صدقه کړلو له خپل هوسه

تامي په بلو مشالو نو خاوري وارولي

لکه مخکي مو چي وويل ښاغلي حنيفي دجګړو او بربادیو ددغه خونړي دوران شاعردي یو داسي شاعرچي پدي اوږده موده کي یي ډیره زیاته درنه او خوږه شاعري کړي ځکه خودده شاعري دواقعیتونو شاعري ده چې واقیعتو نه یي بیان کړي حقا یق یي را بر سیره کړي،او پخپله شاعري کي له ولس او تولني څخه لري شوي ندي .

دده پدغه مجموعه کي دژوند دواقعتونو تر څنګ دعشق او جمال نغمي هم غږول شوي او دمحبت دسوزاو ګداز وږمي هم پکي چلیدلي او دميني او اخلاقي ښیګنو او تصوف رباب یي ښه په خوند تر نګولي او دپښتو دپخو اني اوکلاسیکي شاعري دمطالعي او اغیز له مخي یي ښي کامیابي تجربي کړي دي .

ده په غزل -نظم - قطعو اودشعرپه هره ډانګه کي دخپل ولس او تولني ژوند ،نا خوالو او دردونوته منا سب ځاي ورکړي.ځکه خو دده شاعري دافغان ولس د کړاو جن ژوند روښانه تصویر او دافغانانو دزخمي زړونو خوناب ګټلي شي ګوندې وي چي ترکانو سختو زړو نو ته هم لاره پیداکړي او دچا کر خت احساس لږ څه ولږ زولي شي

په مینه

## شهرت ننګیال

پیښور قصه خواني ۷۳/۹/۱

# مجاهد ورور (حنیفی) صاحب دخپلو آثارو او افکارو په رنا کې

په ګران هیواد افغانستان کې د روسانو په ملاتړ او حمایه د ټور د خونړی او کرغیړنې کودتا راهیسی زمونږ د ټولنې وګړی دټولنیز دریځ په لحاظ په تدریج سره پردوه برخو وویشل شول. یوه خوا دټولنې لږه کی (اقلیت) چې د روسانو ایجنټان او مزدوران وو او د روسانو په مستقیمه مرسته او ننګه یې د قدرت واګی تر لاسه کړې وې او پر دا بله خوا د ټولنې ډیره کی (اکثریت) ؤ چې د خپلې دینی عقیدې اوله هیواد څخه ددفاع په خاطر یې د مقابلې او مجاهدې دګر او سنګر ته ورودانګل. دغسې په دغه ویش کې شاعران او لیکوالان هر یو په خپل، خپل صف کې ودریدل. هغوی چې د روسانو اجیران او غلامان وو په خلکو کې یې دالحاد بې دینی او وطن پلورنې د پوچې مفکورې د خپرولو هڅې وکړې او د خپل غلامانه ذهنیت، ضمیر او ادراك په مرسته یې له ټولو واقعیتونو څخه له یوې مخې سترګې پټې کړې.

دا بله چې زمونږ دمجاهد ملت ربښتینې استازی اود خپل اسلامی او ملی پاڅون پر خوا او ننګ ولاړ وو، د خپل اتل په اسلام او آزادی مین ملت ویاړلې جهادی کار نامې یې د خپلو

شعری او نثری لیکنو په وسیله خوندی له هیریدنې وژغورلې او دخلکو غوږونو ته ورسولې، زمونږ پر مجاهد ملت یې دروسانو او د هغوی دنوکرانو زور زیاتی، او ډول، ډول جنایتونه، حیلی او نیرنګونه خپلو خلکو او ان دا چې نړیوالو ته رسوا کړل ، د خپل اسلامی احساس او تولنیز مسؤولیت له مخې یې په هغسې حساسو شیبو کې وګړی ددین او وطن د ساتنې لپاره خپلو مسؤولیتونو او مکلفیتونو ته متوجه پر دښمن د بشپړ بری او د اسلامی انقلاب د وروستی سر منزل ته درسیدو لارې چارې او عوامل یې په ګوته کړل، ددین او وطن ددښمنانو ددسیسو او توطیو په وړاندې یې د ملت مؤمن او مجاهد وګړی خپل منځی یووالی ته راوبلل د هجر خپلو، غم ځپلو کونډو رنډو یتیمانو بوږو- وږارو دغم او درد اوښکو کړیکو او ساندو په لیدو او اوریدو یې له ځوریدلی او راپاریدلی احساس نه د شعر او ادب مرغلرې جوړې ځړې او ...

ددغو مجاهدو لیکوالو او شاعرانو په ډله کې یوهم ښاغلی ملا اسدالله (حنیفی) صاحب دی چې دجهاد له فرهنګی سنګر نه یې د شعر او ادب په کارنده وسله ددین او وطن پر دښمنانو مرګونی ګوزارونه کړی دی.

مونږ دلته د بیلا بیلو سرلیکونو لاندې د نومورې ژوند، فن ، آثارو او افکاروته یوه لنډه او څنلنده کتنه کوو.

# لنډ ژوند لیک

مجاهد شاعر اسدالله «حنیفی» صاحب له نن نه «۳۵» کاله
وړاندې د (۱۳۳۶ هـ ش کال) د لوګر ولایت د برکي برک
اولسوالی د شیخیلو د کلی په یوی دینداره او مؤمنه کورنۍ کې
سترګې غړولی دی.

د امان الله زوی او د عبدالله خان لمسی په قوم ستانیزی
دی.

حنیفی صاحب د لومړنیو مروجه دینی علومو زده کړه له خپل
پلار او د کلی په جومات کې سر ته رسولې او بیا په ۱۳۵۰ هـ
.ش کال له خپلې سیمې نه څرخ ته لاړ او هلته یې له دینی
علماو څخه زده کړې ته دوام ورکړ. په ۱۳۵۶ هـ.ش کال کې
اقتصادی ستونزو دې ته اړ کړ چې په خواری او مزدوری پسې
ایران ته لاړ شی. په ۱۳۵۷ هـ .ش کال د چنګابښ په میاشت
کې د جهاد په نیت خپل هیواد ته راستون شو. په خپله سیمه
کې یې د کفر او الحاد په وړاندې وسله وال جهاد پیل کړ تر
۱۳۶۱ هـ.ش کال پورې یې د آبجوش د مرکز له مجاهدینو سره
اوږه په اوږه ددین او وطن پر دښمنانو مرګونی ګوزارونه وکړل
. په ۱۳۶۱- او ۱۳۶۲ هـ .ش کلونو کې یې د جمعیت طلبه
حرکت انقلاب اسلامی افغانستان د مرکزی دفتر دامنیت او

نظارت دمرستیال او بیا د مسؤول په توګه دنده اجرا کوله او له دی سره سره د خپل تنظیم په تولو فرهنګی فعالیتونو کې برخه وال وو، د فرهنګی کمیتې د مشاور په توګه یې هم دنده تر سره کړې او د حرکت انقلاب اسلامی افغانستان پوری اړوندې جریدې « حقیقت الاسلام »د مظامینو په لیکنه او خپرونه کې یې د قدرور خدمتونه کړی دي د المؤمنون په نوم د آزاد اخبار دخپرونې او امتیاز ویاړهم ورته حاصل دی او په دي برسیره یې د هجرت په چاپیریال کې د زیاتو خپریدونکو نشراتو مخونه په خپلو اشعارو او افکارو ښکلی کړی دی.

## آثار

حنیفی صاحب ددینی علومو او پوهې ډیرلیوال او مینه وال دی او د ورځنی ژوند زیاته برخه یې ددینی علومو زده کړې ته وقف کړې ده او ددې تر څنګ یې ډیر وخت د وسله وال جهاد په سنګر او ډګر او یا دهجرت په چاپیریال کې دخپل تنظیم په ځانګړې توګه د جمعیت طلبه، حرکت انقلاب اسلامی افغانستان پورې اړوندو فرهنګی فعالیتونو کې تیر کړی دی او دحقیقت الاسلام جریدې مرستیال هم پاته شوی دی له دغو مصروفیتونو سره سره چې نوموړی کوم شعری آثار لیکلی دی هغه د ډیرې زیاتې ستاینې او یادونې وړ او د شاعر او وینا وال د فوق العاده استعداد څرګندولی کوی.

ما ته چې د (حنیفی) صاحب کوم چاپ او ناچاپ آثار معلوم دی دلته یې په لنډه توګه درپیژنم.

**۱- څړیکې:** دا د شاعر لومړنی شعری مجموعه ده چې په ۱۳۶۹ هـ.ش کال د لړم په میاشت کې د جمعیت طلبه حرکت انقلاب اسلامی افغانستان د فرهنګی تولنې له خوا په منځنی قطع په (۱۹۶) مخونو کې خپره شوې ده.

**۲-پرهرونه:** دا د حنیفی صاحب دویمه شعری مجموعه ده چې په ۱۳۷۰ هـ.ش کال د جمعیت طلبه حرکت انقلاب اسلامی افغانستان د فرهنګی تولنې له خوا په وړه قطع په (۴۹۴) مخونو کې په دیر ښه صحافت چاپ شوې ده .

**۳- وینې او اوښکې:** دا د شاعر دریمه شعری تولګه ده چې په ۱۳۷۱ هـ.ش کال په (۱۷۲) مخونوکې په وړه قطع خپره شوه.

**٤- څړیکې او پرهرونه:** د شاعر د غوره او منتخبو شعرونو مجموعه ده چې چاپ ته استول شوې ده.

**۵-ملغلرې:** دشعرونومجموعه ده چې چاپ ته تیاره ده.

**٦- د صحرا ګلونه:** د شعرونو مجموعه، چاپ ته تیاره ده

**۷- ریښتونې کیسه:** په نظم لیکل شوې چاپ ته تیاره ده.

**۸- (د حنیفی دیوان):** په نوم د شاعر د اکثره اشعارو مردف دیوان چې په ۱۳۷۱هـ ش کال کې د جمعیت طلیه حرکت د فرهنگی تولنې لخوا په ښکلی رنګ او ښه قطع خپور شوی دی.

## د اشعارو رنګارنګ ارخونه:

د (حنیفی) صاحب د خپلې وینا له مخې نومورې تر ۱۳۵۲ هـ .ش کال راپدې خوا شاعری پیل کړې ده. خو په پیل کې نې د نورو شاعرانو په څیر خط، خال، زلفې، سترګې، حسن او ښکلا، ګل او بلبل، شمع او پتنګ او ... د شعر اساسی موضوعات وو. خو کله چې په ګران هیواد کې د کفر او الحاد پرضد وسله وال جهاد پیل او نومورې پکې عملاً برخه وال شو نو دژوند دغه پراو یې دفن لاره هم ور بدله کړه او لکه چې پخپله لیکی :« دخال او خط له شاعری نه را تاو شوم د جنګ ، جهاد، میرانې او دخدای «ج» په لاره کې قربانی پلوته مې مخ کړ، له جهادی ستونزو سره سره مې په خپل کم توان څه ناڅه شعرونه ولیکل .». (پرهرونه،۲۸ مخ)

دغسې زمونږ مجاهد شاعر خپل تك لوری بدلوی ، د سرو

شوندو پر ځای د اسلام او هیواد د خپلواکۍ په لاره کښې د شهیدانو او یتیمانو زخمونه او سرې وینې ستایی او د معشوقې د غاړې د امیل پر ځای د مجاهد له گردنۍ څخه ځاریږی.

شاعر په تولنه کې له خلکوسره یو ځای اوسی، خواحساس او ادراك یې له نور و سره توپیر لری. هغه د خپل هغه شعری استعداد له مخې چې خدای «ج» ور په برخه کړی دی هغه څه وینی چې نورې نه شی لیدلای. هغه څه چې تولنه ورسره په مستقیم او غیر مستقیم ډول لاس او گریوان وی د شاعر پر احساس ژوراغ ز ښندی او بیایې د شعری تخیل په ملتیا په شاعرانه ژبه نورو ته وړاندې کوی که شاعر په ربښتنی توگه خپل تولنیز رسالت، مسؤولیت او مکلفیت چې دیو فعال غړی په توگه یې د خپلې تولنې او خلکو په وړاندې لری، وپیژنی، نو شعر به یې ربښتیا هم د تولنیز ژوند هنداره ، د حقایقو بیانوونکی، دلار ورکو لارښود او د خلکو د پوهونې او هڅونې اود عام ذهنیت د بیدارولو اغیزمنه وسیله او لامل وی ، غږ او پیغام ته به یې اولس او تولنې په ډیره مینه غوږ نیولی وي او د خپلو هیلو دترجمان په توگه به دده پر وینا عمل کوی، شعر به یې د خلکو په ژبو گرځی راگرځی او تر هغه چې دغه بشری تولنه موجوده وی هیڅوك یې نشی هیرولی. ترکومه چې ما د (حنیفی) صاحب اشعار د هغه په خپرو شویو مجموعو او گڼو جهادی خپرونو (مجلو او جریدو) کې لوستی دی، ډیری هغه

خوبی راته پکې څرګندې شوی چې دیو معقول او مقبول شعر لپاره لازمې دی.

شاعری یې د کمیت او کیفیت دواړو له اړخه درنه ، خوندوره،رنګینه او په لفظی او معنوی صنایعو او ښیګنو پسوللی ده.

ددینی او شرعی مسایلو تبلیغ، د مجاهدینو د ویاړلو کارنامو او سرښندنو ستاینه ، دالحاد فساد او ښکیلاك غندنه، دوطن مینه، د شهید او دشهادت د مقام ستاینه ، ددین او وطن ددښمن په وړاندې د خپلو مؤمنو خلکو وحدت او اخوت ته د رابلنې پیغامونه، د مکار دښمن د اصلی څیرې او شیطانی دسیسو رسوا کول، د ګوندو رندو، بورو، وړارو، اسکیرلو او خوریدلو د غمونو، پرهر نو او دردونو څرګندې ، اوښکې او وینې د هجرت د ژوند او چاپیر یال ستونزې، دخپلو او پردیو نادودې نا خوالې او دغسې په لس ګونو نورمسایل یې د شعر اصلی او اساسی موضوعات دی، چې خپل خدای «ج» ورکړی شعری استعداد ، خواك او پوهه یې پرې ازمویلې ده.

دشعر ژبه یې ساده ،خو رنګینه او خوږه ده، پاخه استدلال او منطق ، او په ځغرده انتقادی ژبې یې که له یوې خوا د اشعارو معنوی اړخ ښه پیاوړی کړی د ستاینې او یادونې وړ ښکلایې وربخښلې ده ، نوله بلې خوا د شاعر او وینا وال د حساس ذهن، وینې ضمیر روانې طبعې او علمیت ښه څرګندویی کوی.

دحنیفی صاحب د شاعری د پیلا پیلو اړخونو څیړنه او سپړنه او په هره اړونده موضوع کې د شعر د بیلګې راوړنه او پری تبصره د یو لوی کتاب لیکنه ایجابوی او د یوې مقالې په لنډ چوکاټ او تنګه لمن کې نشی کیدای.

زه دلته د نومړی د شاعری په رنګارنګ اړخونوکې د نغښتو په سل ګونو مسایلو له جملې څخه د یو څو موضوعاتو په اړوند (چې دابه د هغه په ټولې شاعری کې د «مشت نمونه خروار» حیثیت ولری) د یوې یوې شعری بیلګې په را اخیستلو او لنډې یادونې اکتفاء کوم.

حنیفی صاحب د خپل مجاهد ملت په درد دردمند او په غم غمجن شاعر دی، په هیواد کې دیو اسلامی حکومت جوړیدل، او د اسلام او وطن د دښمنانو د لاسه خور اور ملت په اسلامی اخوت او ملی وحدت راټولیدل د هغه یوازینی هیله ده، څکه نو هغه د لوی خدای«ج» حضور ته په دیر عجز او زاری لاس پورته کوی او وایی:

لویه خدایه! مونږ یو موټي یو قوت کړې
سرفراز مو په دنیا په آخرت کړې
چې دا خور او ور ملت مو بیا راټول شی
سپین بیرغ مو د وطن په سر اوچت کړې

(پرهرونه ٤٠ مخ)

چې جهاد په لیکو کې یې نفاق او شقاق تر سترګو کیږی نو همدغه ورته د هیواد د بشپړې خپلواکی او پر دښمن د وروستی بریالیتوب لاره کې لوی خنډ ښکاری ،نو د لوی خدای «ج» څخه د مجاهدینو وحدت او د ګران وطن آزادی په دی الفاظو غواړی:

لویه خدایه زمونږ ګران وطن آزاد کړې
سره ټول مو تیت صفونه دجهاد کړې
ته قبوله زمونږ دغه قربانی کړې
بریالی مو په وحدت په اتحاد کړې

(پرهرونه ۳۲۵ مخ)

حنیفی صاحب دیو هودمن او متعهد مجاهد په توګه د اسلام او وطن نه ددفاع په سنګر کې ولاړ یې له الله چاته سر نه ټیټوی د دښمن په وړاندې خپل کروړلی اسلامی هود داسې اعلانوی:

که دا ظلم یو په سل او یو په زرشی
که کمون له دې نه نور هم ښکر ورشی
که وحشت یې په موجونو سمندرشی
که نړی راته تنور او یا مجمر شی
که په اور کې مې کباب تن او ټټرشی
که هډونه مې ایره او خاکستر شی
د تسلیم سر به تیټ نه کړمه بل چاته
همیشه به سرنګون یمه مولاته



(پرهرونه ۲٦٦ مخ)

په افغانستان کې د حق او باطل ترمینځ په روانه جګړه کې چې له یوې خوا د حق په سنګر کې تش لاسی، خو د ایمان او عقیدې په وسله سمبال مجاهدین او پر بله خوا په ډول ډول وسلو او وسیلو سمبال ملحدین او طاغوتی ځواکونه د مقابلې ډګر اوسنګر کې ولاړ دی، (حنیفی) صاحب دغه داسلام او الحاد مقابله او نا اندوله جګړه داسي یادوی:

دا دحق او د باطل ترمینځ جګړه ده
داسلام او د الحاد مقابله ده
دلته غوښه د پولاد و سره جنګ کړی
ټول هیواد مو دیاروت داور لمبه ده

(پرهرونه ۲٤٤ مخ)

حق ویل حق پیروی او پر حق عمل کول د یو مؤمن مسلمان ډیره مهمه ځانګړنه ده ځکه نو زمونږ مجاهد شاعر هغه خپله کړنلاره او تګ لاره بولی او وایی:

حق به اورم، حق به وینم، حق به غواړم
حق به وایم، حق به ستایم، حق به کړه کړم
حق مې دین حق مې آئین دی حق مې تلین دی
حق خو حق دی حق منم په حق به تله کړم

(پرهرونه ۱۳۵ مخ)

د نبوی مبارك ارشاد له مخې جهاد دقیامت تر ورځی پورې جاری او په هر مؤمن مسلمان فرض دی.. (حنیفی) صاحب د یو

دینی عالم په توګه د کفری او طاغوتی ځواکونو په وړاندې د جهاد د ادامې لپاره دا مبارك ارشاد د شعر په ژبه داسې تبلیغوی:

څو چې دغه ویر جهان وی
چې ژوندی پکې انسان وی
له طاغوت سره به جنګ کړو
دا جهاد به موروان وی

(پرهرونه ۱۱۲ مخ)

په افغانستان کې د مؤمنو مجاهدینو په وړاندې د روسی بنکیلاك شرمیدلې ماتې او نړیواله رسوایی زمرنږ په جهادی ادب کې په ډیره ښه انځور شوی، او شاعر پرې خپل شعری ځواك ازمویلی دی راځئ چې په دې هکله د (حنیفی) صاحب د یوشعر څوبیتونه ولولو:

ښه شول چې سره پوځونه وتمبیدل
چې سرنګون په آمو پورې وتل
چې شول بې پته هر سړی ته ورونو
ټولې نړی په وړاندې وشرمیدل

(پر هرونه ۵۸ مخ)

د حق په لاره کې شهادت د هر مجاهد لومړنی هیله ده، زمونږ مجاهد شاعر چې عملاً د الحاد او فساد پر ضد دوسله وال جهاد په سنګر کې ولاړ دی، خپله دغه ستره هیله په یو شعر

کې داسې انځورې:

زه دجهاد سنګر ته ځم د شهادت په تمه
کفن له ځانه تاووم د شهادت په تمه
ربه زما وینه قبوله کړه په خپل دربار کې
په لپو، لپو یې درورم د شهادت په تمه

(پرهرونه ۱۹۷مخ)

داسلامی امت بې اتفاقی او ځانځانی یې ډیر ځوروی خپل دغه ځوریدلی احساس د شعر په ژبه داسې افاده کوی :

نه انفاق شته نه وحدت شته مسلمانو مینځ کې
دا ځانځانی مې لکه شمع پای تر سر سوزوی

(پرهرونه ۱۹٤مخ)

چې د هیواد د آزادۍ په لار کې خنډونه او ځنډونه رامخې ته شوی، اوږده او ترخه انتظار ستړی کړی نوخپل ژوبل احساسات یې داسې څرګند کړی دی:

آزادی تا ته انتظار کړو ته به کله راځې؟
سترګې به فرش درته په لار کړو ته به کله راځې ؟
د شهیدانو پاکو وینو سره لاله ټوکلی
تاته لوګی به لاله زار کړو ته به کله راځې؟

او کله چې بیا د هجرت په دیار کې د خپلو او پردو نادودې او نا خوالې ګوری، د وطن یاد یې په فریاد راولی او وایی:

نه مې یارشته نه رویبار پردی وطن دی
د فراق په اور مې وریت تن او بدن دی
د هجرت عمر اوږدیږی لویه خدایه!
سره خزان مې رژولی ټول ګلشن دی

(پرهرونه ۳٤٦ مخ)

د وطن مینه یوه فطری غریزه ده، له خپل ټاټوبی سره دانسان د معنوی او روحی تړون انګیزه او اغیزه یو داسې څرګند حقیقت دی چې هیڅوك ترې انکار نشی کولی، زمونږ مجاهد شاعر چې د نورو په ملیونو افغانانو په څیر د روسی ښکیلاك او دهغوی د مزدورانو د زور زیاتی په نتیجه کې له هیواده مهاجر شوی، د وطن سره دمینې او پر هغې له سر او مال نه د تیریدو لوړه په داسې الفاظوکوی

چې له تانه مسافر او مهاجر یم
له هغې ورځې تر اوسه خون ځیګریم
اې زما دسترګو تور افغانستانه
په والله درباندې تیر له مال او سریم

(پرهرونه ٤٨١ مخ)

دمجاهدینو دویاړلیوکارنامو او دهغوی دمقام او مرتبې په ستاینې (حنیفی) صاحب ډیر شعرونه ویلی دی، په یو شعر کې مجاهد په عامه توګه د ټول اسلامی امت او په ځانګړې توګه د مسلمان افغانستان د شهامت او سرلوړی نښه او لامل ګڼی او

هغه داسې مخاطب کوی:

اې مجاهده د افغان د شهامت نښه شوې
دټول امت د سرلوړی او اصالت نښه شوې
تا دمیرویس نیکه شمله نوره هم لوړه کړله
داحمد شاه او غزنوی دوراثت نښه شوې

(پرهرونه ۱٦۸مخ)

هغه چه په ټولنه کې داسې بې احساسه خلك ګوری چې د اسلامی انقلاب ارمانونه یې له یوې مخې هیر کړی او د شهیدانو په وینو یې تجارت پیل کړی دی، د احساساتو دیګ یې په جوشیدو راځی او دهغوی په وړاندې خپله کرکه او نفرت داسې څرګندوی:

بیا د حالاتو سترګې سرې شوې خدایه!
د امید ونو ډیوې مړې شوې خدایه!
د شهید وینې شوې له پښو نه لاندې
د څو کسانو پرې مزې شوې خدایه!

(وینې او اوښکې۸۵مخ)

سرمنزل ته د رسیدو په لار د وروستی فتحې په درشل کې د حق د لارې مجاهدین داسې هڅوی:

د احمد شاه بچیه ستړی او ستومانه نه شې
هدف ته ځغلنده سفر کوه ناتوانه نشی

دښمن دمرګ سلګۍ وهی دايې وروستی شيبې دي
درشل دفتحې ته نيږدې يې پښمانه نشې

(پرهرونه ۱۶۹مخ)

د غسی نورې بې شميره بيلګې در اخيستنې او يادونې وړ دی، خو د مجبوريت له مخې په دې لاندې لنډی د خپلو خبرو لړی پای ته رسوم:

ستا د ښايست ګلونه ډير دی
خۀولی مې تنګه زه به کوم يو ټولومه

سيدمحی الدين «هاشمی»

۱۳۷۱ هـ ش

PROPERTY OF PACKU 5556

# د حنیفی لنډ ژوند لیک

ملا اسدالله (حنیفی) د امان الله زوی د عبدالله خان لمسی د نورخان کړوسی په ختۀ ستانکیزی په ستانکیزیو کې فتح خیل په فتح خیلو کې بیا دشیخ خیلو په قبیله پورې تړلی دی.

(حنیفی) صاحب په ۱۳۳۶ هـ ش کال د لوګر ولایت د برکی برک اولسوالی د شیخ خیلو په یوه دینداره، علمدوسته او مسکینه کورنۍ کې سترګې دنیا ته غړولي.

(حنیفی) صاحب په خپل کور او دکلی په جومات کې په لیک لوست پیل وکړ.

او د ۱۳۵۰ هـ ش کال په اواخرو کې یې ددینی علومو د زده کړې د پاره له خپل کور څخه د لوګر ولایت څرخ نومی سیمې ته بستره یووړه او دطالبی دوره یي آغاز شوه.

حنیفی صاحب له هم هغه وړوکوالی نه له پښتو شعر سره مینه لرله دشاعرانو دشعرۍ مجموعو او دیوانونو د مطالعی تلوسه یې په زړه کې پرته وه.

حنیفی صاحب له شعر سره مینې درلودلو په ۱۳۵۲هـ ش کال کې په شعر ویلو برلاسی کړ .

حنیفی صاحب لا ددینی علومو له زده کړې نه وو فارغ شوی چې د مکلفیت دورې عسکری خدمت ته جلب کړ خو څښتن

تعالی د هر پوهه او ذکاوت ورکړی وو چې د اساسی اصولو د [illegible]مې مادې په رنا کې د مدرسی امتحان ورکړی او د ۱۳۵۵هـ ش کال د لړم د میاشتې په ۱۵مه نیټه د لوګر ولایت د مرافعې ریاست په میز له امتحان څخه په لوړو نومرو بریالی او د لیندی د میاشتې په لومړۍ نیټه د مکلفیت له لوی مدیریت څخه بری لیك ترلاسه او دعسکری خدمت نه معاف شو.

څرنګه چې د(حنیفی) کورنی یوه مسکینه کورنی وه پلار مبارك ئې تنها سورته وو اقتصادی ستونځو د یته اړ کړ چې د مزدوری په خاطر ایران ته سفر وکړی.

حنیفی صاحب لا په ایران کې په مزدوری بوخت وو چې په آزاد افغانستان کې یو شمیر پلورل شویو افرادو د خپل بادار(شوروی اتحاد) په مرسته د ۱۳۵۷ کال د غوایی د میاشتې په ۷مه نیټه د یوې خونړی او کرغیړنې کودتا له لارې سیاسی او نظامی واك ترلاسه کړ.

دکمونستانو دکودتا اوقدرت ته د رسیدو لا ډیره موده نه وه تیره شوې چې (حنیفی) صاحب د هم هغه کال د چنګاښ د میاشتې په لومړۍ اونۍ کې د(اسلام قلعې) له لارې دجهاد د فریضې د ادا په خاطر خپل ګران هیواد افغانستان ته راستون شو او دنورو ویښو افغانانو په څیر یې د وسلوال جهاد او ملی قیام د آغاز کار پیل کړ هغه وو چه د ۱۳۵۸هـ ش کال د غویی په ۱۹مه نیټه یې دلوګر ولایت د مؤمنو خلکو سره یوځای په

وسلوال جهاد لاس پورې کړ چې په لوګر کې د ملحدینو اداري یو پر بل پسې فتح شوې.

حنیفی صاحب د آبجوش د مرکز له مجاهدینو سره چې په حرکت انقلاب اسلامی افغانستان پورې تړلی مرکز و د یو پیاوړی مجاهد په توګه جهاد ته ادامه ورکړه.

حنیفی صاحب په ټولو دښمن ټکونکو بریدونو کې د یو تکړه غازی په توګه برخه لرله.

څرنګه چې (حنیفی) صاحب د یو اتل او دلاور زړه څښتن وو په کال ۱۳۵۹هـ ش کې دحرکت انقلاب اسلامی افغانستان دمرکزی دفتر لخوا د برکی برک ولسوالی د امنیتی قوماندان په صفت تعین شو.

حنیفی صاحب په ۱۳٦۱هـ ش کال کې دمرکزی دفتر له لوری په پیښور کې د جمعیت طلبهء حرکت انقلاب اسلامی افغانستان دامنیت او نظارت ریاست دمرستیال په حیث استخدام شو.

لږ موده لا نه وه تیره چې (حنیفی) صاحب د جمعیت طلبهء حرکت انقلاب اسلامی افغانستان دامنیت او نظارت دریاست پوست ته ارتقاء وکړه.

څرنګه چې (حنیفی) صاحب یو فرهنګی شخصیت وو د ۱۳٦٤هـ ش کال په اوږدو کې د جمعیت طلبهء حرکت انقلاب اسلامی افغانستان دفرهنګي او مطبوعاتی ریاست د مشاور په حیث هم وټاکل شو او دحقیقة الاسلام جریدې د مرستیال په

توګه يې په فرهنګی فعاليتونو کې نيغ په نيغه ونډه واخسته.

خو(حنيفي) صاحب په دې خدمت هم اکتفا ونه کړه په ۱۳٦۷هـ ش کال کې يې د (المؤمنون) په نوم خپلواکه اسلامی جريده هم شروع کړه خو بدبختانه چې د جريدې کارنده تورې د وخت او د وخت د قيادتونو سره موافقه ونه کړه هغه و چې جريده هم هغه يوه ګنډه خپره او بيا بنده شوه.

دغه راز د (حنيفی) صاحب څلور شعری مجموعې يو ديوان چاپ او څلور نورې شعری ټولګې يې چاپ ته تيارې دي.

سربيره پردې د (حنيفی) په جهادی، حماسی، اجتماعی، صوفيانه او دعايه کلامونو دجهاد د دور ټولې جهادی ورځ پانې، جريدې او مجلې بنکلې وې او دجهاد په دوران کې يې ډير شعرونه خپاره شول.

حنيفی صاحب نه يوازې د سنګر مجاهد ده بلکې د فرهنګی، قلمی او سياسی ډګر نه يې هم په دښمن کارنده وارونه کړی دي.

حنيفی صاحب د افغانستان دځوارلس کلن جهاد په دور کې ډير کړاوونه وزغمل په کال ۱۳٦۲ کی يې له خپل ګران هيواد افغانستان څخه دکورنی ټول غړی هجرت ته مجبور شول تر اوسه د پيښور په دښتو کې د هجرت سوزنده دوبی او لړزونکی ژمی تيروی.

کوم وخت چې افغانستان د مجاهدینو په لاس ازاد شو او په کابل کې جهادی ګوندونو په فعالیت پیل وکړ (حنیفی) صاحب د یوې ډلې طالبانو په مشری کې کابل ته لاړ او هلته یې د جمعیت طلبهٔ حرکت انقلاب اسلامی افغانستان د فعالیتونو په لړکی په فعالیت پیل وکړ.

دغه شان (حنیفی) صاحب د ۱۳۷۲ هـ ش کال د زمری د میاشتې په لومړۍ نیټه د افغانستان د اسلامی دولت د تعلیم اوتربیې وزارت د نشراتو ریاست د مرستیال په حیث مقرر شو ددغې دندې په څنګ کې د (عرفان) مجلې د هیئت تحریر د غړیتوب ویاړ هم ورکړای شو.

هم داشان (حنیفی) صاحب په ۱۳۷۲ کال دجمعیت طلبهء حرکت ا. ا. ا. دصدر مولوی عمادالدین لخوا او دحرکت انقلاب اسلامی افغانستان ددارالانشاء د مکتوب په اثر په کابل کې د جمعیت طلبهء حرکت ا. ا. ا. د صدر دکفیل په حیث هم تعین شو.

او دغه رنګې (حنیفی) صاحب دافغانستان د اسلامی دولت داطلاعاتو او کلتور وزارت د ۱۳۷۲ هـ ش کال د اثارو د مسابقې د خپل دیوان(دملا اسد الله حنیفی دیوان) دوهمه جائزه ترلاسه او په اعزازی دپلوم ویاړمن شو.

ملا در محمد گوهری

۱۳۷۳ هـ.ش

# حمد

ته خالق يې ته رازق يې ته غفار يې
ته احد يې ته صمد يې ته ستار يې

ته رحمن يې ته رحيم يې ته كريم يې
مهربان په خپل مخلوق ترمورو پلاريې

پيشور ۱۳۷۳/٦/۲۲هـ ش

# زاری

الهی دمصیبت په وړاندې زغم را
صبوری دخپل ایوب(ع) مالره هم را
دازمیښت په وړاندې وس نه لرم خدایه
ابتلا وونه نجات دزیات وکم را
شومدم کښې مې لاس لوړ درته نیولی
دلته هلته حسنات پۀ خپل کرم را
چې به ته پرې خوشحالیږی لویه خدایه
داسې خوی داسې عمل او داسې دم را
دازاریۀ رانه قبولې کړه خاونده
صداقت مینه اخلاص په هرقدم را
په طاغوت چې له اتوم نه هم کاری وی
هغه خوله هغه کلام هغه قلم را

چې وی تاته دشهید له وینو گرانې
حنیفی سترگوته هغه رنگې نم را
پیښور ۱۳۷۳/۵/۲۹ هـ.ش.

○

زړه ونه تړې په مال ددې دنیا
هرڅه هرڅه دی زوال ددې دنیا

سبا شابیګاه ګداشی ورته ګوره
لکه خوب تیرشی جلال ددې دنیا

درومی درومی عمر ځی د سترګو رپ کې
نشی پوی په ورځ په کال ددې دنیا

نه به ورور نه به تربر درته پکار شی
درسره به وی اعمال ددې دنیا

پام کړه پام کړه (حنیفی) چې دوکه نشی
په زیور اوپه جمال ددې دنیا
پیښور ۱۳۷۱/۷/۲٤هـ ش

○

بیامې به زړه باندې سکروټې راوریږی خدایه
چې هندوستان کې بابری جومات نړیږی خدایه

بیا ابدالی بیا غزنوی وینه موجونه وهی
چې هغه مات سومنات بیا دویار جوړیږی خدایه

مسلم ملت کې کور په کور ناړې نارې دی ربه
په ایودیاکې چې محراب ممبر ورانیږی خدایه

راځئ راپاځی چې تاریخ د غزنوی تازه کړو
کنه محمود رانه لحد کې خپه کیږی خدایه

اې ددنیا مسلمانانو سره ټول جرګه شی
چې ایودیا کې د رسول«ص» امت ژړیږی خدایه

د (حنیفی) ځیګر کړم کړم ټپی ټپی شو
چې دا دغم آواز یې غوږ لره رسیږی خدایه
پیښور ۱۳۷۱/۹/۱۶ هـ ش

○

پردیسی ورځی تیره ومه د غمو په کلی
لکه میلمه چې ورغلی وی د غلو په کلی

څه د وحشت تورې تیارې مې په کاله راغلی
لاخو حاکم دی سره دیوان د ښاپیر و په کلی

د عدالت مینې وفا جنازه ګورته تللې
دبربریت بربوکی راغلې د پښتو په کلی

بیا مې په کلی کښې غوغا ده جوړ ناورین دی
پکی
راغبرګه شوې کربلا ده د خیمو په کلی

دا جبر زور له کومه راغی زما کلی لره
چې سړی توب یې ختم کړی د سړو په کلی

زه (حنیفی) کلی په کلی اوس لمن ګرځوم
نه شوم ورپیښ د غیرت منو پښتنو په کلی
کابل ۱۳۷۲/۹/۲۳ هـ ش

○

ځې د همت ملا وټړو وتړو روان روان شو
د اتحادله بنګو غوړپ وکړو مستان مستان شو

راوښې شې ویښ شې دغفلت په خوب به څو ویده یې
چې دا مکار دښمن ته تندر د آسمان آسمان شو

همت مو ولې ویده کیږی ورځ تربلې ورځې
هلی راپاڅې چې په دین یاندې قربان قربان شو

ورونو راځې کورګی مو پاک کړو د الحاد له جړو
دې بقایا دکمونیزم ته توپان توپان شو

تر څوبه داسې سره بیل بیل یو له یله یاستو
راځې راټول دخدای په دین او په رسمان رسمان شو

واعتصموا فرمان ته غاړه په ریښتونې کیږدو
تمام ځواکونه پرې راغوند په دې فرمان فرمان شو

له بیگانه وو څخه وشرمیرو شرم وکړو
نور نو یو موتی په دې دهر دې جهان جهان شو

د (حنیفی) د مایوسی اوښکې به څوك کړی وچې
راځئ تپی تپی احساس ته یې درمان درمان شو
پیښور ۱۳۷۱/۹/۱۹ هـ ش

○

په سلګو سلګو جانانه ستا حرم ته په درتلو یم
سوال مې ومنه زاری کړم ګرانه تاته په زارویم

یاره تا ته مې نیولی دواړه لاس پاس په تندی دی
سلامونه مې قبول کړه سلامی په ورځو شپویم

ستا د هجر اور کباب کړم ځکه تورلو غږن ګرځم
د وصال باران دې وکړه لکه ګل په رژیدو یم

لاس او پښوکې مې ولچك دی دبیلتون په ځیل بندی یم
لږ څه رحم په ما وکړه حو به بند په زولنو یم

د بوسې په تمه تمه مې ځوانی خزان خزان شوه
څو یه ګرځم وچې شوندې څو به ترې دبوسویم

غلامی کښې مې قبول کړه رب دپاره  رب دپاره
چې په خاورو درته پروت یم ستادرشل کې په ګوندویم

حنیفی دې په یاری کښې په زړګی کړم کړم شوم
د زخمی مرغه په رنګې په زګیروی او په سلګویم
پیښور ۱۳۷۱/۹/۲۲ هـ ش

خوږه کابله بیا دې ولی په تتر دې ولی
په غرنو توپو دې ولی په سکر دې ولی

لا زړه یې یخ در باندې ندی ستا د خپلو بچو
کابله ولی دې بیا بیا د زړه په سردې ولی

کندر کندر یې کړې کابله په قدرت مینو
هره شیبه هره کړۍ شام سحر دې ولی

بیایې په سرو لمبو کباب کړې پما ګران کابله
په بې رحمی سره دې ولی لرو بردې ولی

بیایې په څه ګناه نیولی یې ګنا دې وایه
چې ورانه وی درته کورونه سر په سردې ولی

لاهم هغسې په اور سوزې پسې سوزې سوزې
هره مانۍ هره کوڅه هر یو تیر دې ولی

ستا (حنیفی) ستا په ماتم له سترګو وینې ژاړی
چې چلوی پتا بارونه سم وغردې ولی
پیښور ۱۳۷۲/۱۰/۱۶هـ ش

زمانه کوی یون رز رز انتظار نه کړی چاته
کم بختان پکې خندا کړی بختور به پکې ژاړی

په غفلت غفلت شوې تیری د ناپوه د عمر ورځې
یوه شپه وه پرې سبا شوه دی لا خپل او پردی نغاړی

درنګ په درنګ کرداژغو کړی دخپل عمر په وړدوکې
د غرور په نیلی سوروی دم په دم وریاندې ویاړی

ددنیا په دام کښې ښکیل شی اخرت ورځنې هیروی
په رنو سترګو ویده وی په غفلت کښې به ولاړی[1]

زړه بې ډکـ وی له ګناه نه څکه ټول عمر ګناه کړی
د شیطان په ویل عمل کړی درحمت ملکه داړی

حنیفی له داسې خلکو نه امان او فنا غواړه
چې وطن په نورو پلوری قوماندې ورځنې غواړی
پیښور ۷۱/۹/۲۵ هـ ش

(۱) ولاړ یی

○

زه قدم دیار په کلی او په دردم
څکه توری د غزل شیرو شکر ږدم

د آشنا دکلی خواراته کعبه شوه
د رنګ په درنګ ورته تیتیږم ورته سر ږدم

که دلبر قدم زما په کلی کیږدی
ورته زړه ږدمه په لار ورته بصر ږدم

دا جزبه دا شنا مینې ماته راکړه
چې مال ځان لکه دسپاندې په مجمر ږدم

په رقیب به بیا دبرې راوریږی
زه چې لاس دیار د څنو په لښکر ږدم

حنیفی د یار له رویه له خاطره
تولو ښکلو ته به زه لاس په تتر زدم

کابل ۱۳۷۲/۹/۲٤هـ ش

○

په توکو توکو کښې آشنا لما خپه خپه شو
لامسکی نه وو چې دوبار راته غوسه غوسه شو

زه يې رخسارته لا په غټو غټو ځيرنه ومه
چې ددښمن په لمسه بيا يوځل دوکه دوکه شو

زما په سترګو کې زړې اوښکی لاوچې نه وی
چې دوباره پکې داوښکو سين څپه څپه شو

هغه پر هرچې مې په زړه کې له اوله جوړو
واوری غالمه په والله چې بيا تازه تازه شو

په زړه مې بلې شوې لمبې ديار دجورو جفا
چې د رقيب لوری ته بيا ور په ستنه ستنه شو

رويباړه راشه هله هله روانيږه زر شه
آشنا ته وايه (حنيفی) يوه لمبه لمبه شو

پيښور ۱۳۷۱/۹/۲۵ هـ ش

○

ولې دې بيا کړم په ژړا دلبره
لکه ماشوم په واويلا دلبره

بيادې دچا په لمسه وکړه آشنا
چې دې له ځانه کړم جلا دلبره

ټولې اسرې مې شوې داورلو خړه
ستا په ستم ستا په جفا دلبره

اوس به کچکول دملنګی ګرځوم
کلی په کلی هره خوا دلبره

زه (حنيفی) د غم سپلیو يوورم
له کلی کوره په سحرا دلبره

کابل ۱۳۷۲/۹/۲۶هـ ش

○

نوري دې نه اورم خوږی خبري
زيری د فتحې تش په نوم راکوې

يوازې رنګ دې د کاسې بدل دی
کنه شراب د زاړه خوم راکوې

دپردې شاته دې ازغی کرلی
وعدې به دروغو د شبوم راکوې

زاړه رباب کې نوی ترځ غږوې
شر او فتنې رقم رقوم راکوې

زه (حنيفی) دې دير خپه خپه کړم
چې په شربت کښې پټ زقوم راکوې
حيات آباد پيښور ۱۳۷۱/۱۰/۲٤هـ ش

○

خدایه څه په بلا سرکړم غم د ښکلو
په ځوانی ابتر ابتر کړم غم د ښکلو

له ژړامې اوښکو رنګ د وینو واخست
ځکه زه خون ځیګر کړم غم د ښکلو

اوس کچکول دملنګی ورمه په غاړه
ګریوان څیرې قلندرکړم غم د ښکلو

نه مې خوب شته نه آرام شته نه سکون شته
سرګردانه سمندر کړم غم د ښکلو

که پتنګ د شمعې مینې په اور پوخ کړ
زه لوخړه په مجمر کړم غم د ښکلو

نه امیر شوم نه دارا شوم نه فقیر شوم
مگر تول هنر هنر کړم غم د ښکلو

حنیفی څکه له ښکلو فریاد وکړ
وایی زه پرهر پرهر کړم غم د ښکلو
کابل ۱۳۷۲/۹/۳۰هـ ش

○

حُم خو حُيرم په طرف اولورد مينې
پرې به نه ږدمه حرم او کور دمينې

د پتنګ غوندې ستی که په انګارشم
نو ايله که بيا ادا شی پور دمينې

که شهيد د يار دمينې په تهمت شوم
لا به نورهم شی ګلشن سمسور د مينې

ماته مه وايه چی لاس له مينې واخله
زه خورلی يم په زړه منګور دمينې

زه دمينې محبت د بن طوطی يم
ځکه خيژي مې له خولې نه شور دمينې

لاړې لاړې دفراق شیبې ،شوې تیرې
دوصال مطرب کړی تنګ تکور دمینې

حنیفی به ددلبر د غاړې هار شی
چې یې واخسته په سر پیغور دمینې
پیښور ۱۳۷۱/۱۰/۲۵هـ ش

○

خدایه تاته ملامت او شرم ساریم
دیر مختوری شرمنده او گنهکار یم

دواړه لاس مې په دعا درته نیولی
ستا د رحم دبښنې امید وار یم

د کرم باران دې وکړه پما ربه
د گناه گرمی وهلی څو څو واریم

دا دتیر عمر گناوې راته پل کړه
لویه خدایه هیلمن دې ددریاریم

آینده کښې را عطا دښو توفیق کړې
نور له بدو کړو او چارو توبه گاریم

الهی زړه مې له سوزه څخه ډک کړې
چې ثنا صفت دې کړمه په چغاریم

حنیفی ته ددې توان اووسه ورکړه
چې دشپې په ذکر فکر تر سهاریم
پیښور ۱۳۷۱/۱۰/۲۵هـ ش

○

د آشنا دوريځو تيغ پر هر پرهر کړم
دښمنو غيسی يې سوری دژړه په سرکړم

چې راپورته يې په ناز سترګې شهلا کړې
په والله له خاکستره يې بتر کړم

په يوه نظريې جوړ رانه غلام کړ
جارو کښ يې د خپل کور او دخپل درکړم

په کوڅه کې يې اوس ناست يم دم ختلی
ددنيا له بود وښويي لاس په سرکړم

د جهان له رنګينيو بې پروا يم
خاك روبی چې په کوڅه کې د دلبر کړم

د آشنا مې څه عجيب غوندې نظرو و
چې يې زه د هر حسين د درنوکر کړم

په ژوندون مې د ژوند و چارې ايله کړې
حنيفې مينې د مړيو په بستر کړم
پيښور ۱۳۷۲/۱۰/۲۶هـ ش

○

نه لرمه تاب چې یمه نور درنه جلا موړې
ګرځې مې په سترګو کې والله سبا بیګا موړې

بیل کړم لټا موری خپل نصیب لټانه بیل کړمه
ته په پیښور زه په کابل کې په ژړا موړې

زړه مې د ماشوم په څیر سلګی درپسې تل کوی
خپلې ګرانې موړې څو به لرې یم لټا موړې

ستا فراق مې سوزی د ققنس غوندې په سرولمبو
څه وکړم چاره څه ده چې درشمه تر خوا موړې

تامې په روزنه کې زغملی تکلیفونه دی
څنګه به لاس بری شم چې حق دې شی ادامورې

زه خو دير عاجز يم ستا د حق پوره کولو کښې
غواړمه توفيق له خپل بښونکی رب مولا موړې

زه حنيفی تل درته زاری کوم په دير عجز
هير چې درنه نه شم له بخښش اوله دعا موړې
کابل ۱۳۷۲/۱۰/۲هـ ش

○

څومره وږدي شوې لويه خدايه دباړونو ورځې
د تشدد يرغل تيری او د برید ونو ورځې

ما ويل د فتحې لمر راوخوت د خوښۍ ورځې شوې
بد نه بترې شوې د خپل مينځ د مرګونو ورځې

ما ويل روغ به شی تپونه د شهيد د کونډې
افسوس چې يو وړلي اوبو د ملهمونو ورځې

ماويل د سولې مو سم راغی زمونږ غولي لره
ليکن په ورو ورو شوې راغبر ګې د جنګونو ورځې

اوس به قاتل او مقتول دواړه په لمبو کې سوزی
ځکه چې ګرمې مو شوې کور کې د قتلونو ورځې

اوس د ګوندونو تر مينځ بل شول د جګړې اوړونه
تيرې شوې ولاړی د جهاد او جهادونو ورځې

ویالې بهیږی د سرو وینو د کابل کوڅوکې
چې ورته راغلې دتوپونو دباړونو ورځې

د (حنیفی) په ګړیوانه کښې اوښکو دارې وکړې
هره کړی یې ژړوی د نفرتو نو ورځې
پیښور ۱۳۷۱/۱۱/٤هـ ش

○

تمامی عمر دې تیرکه په غفلت
نن خالی منګولې وړې په آخرت

همیشه له نیکو خلکو ګریزا
مدام یې د بد خصلتو هم صحبت

روند او کون یې تمام عمر ترمات
خبر نه شوې د ناصح په نصیحت

د شیطان په لاړه تلې چابك چابك
د رحمن په لار دې نه و حرکت

د عقبی په غم دې ترنه کړل چشمان
په خندا به وې هر وخت او هر ساعت

حنیفی به درته ویل په سپینه سپینه
مګر تا به پرې کولو شر شدت

پیښور ۱۳۷۱/۱۱/۱۷ هـ ش

○

تا چې د مینې په یادونو خاورې واړولې
جوړ دې زما په امیدونو خاورې واړولې

زما دهیلو دآرزو ځاله دې ورانه کړله
چې دې په خپلو تللو پلونو خاورې واړولې

راته د لارې په وډو کې دې ازغی وکرل
چې دې د ویار په سرو ګلونوخاورې واړولې

هیرې به نه کړمه تر مرګه ستا ترخې خاطرې
بیا دې زما په پر هرونو خاورې واړولې

زما عظمت دې صدقه کړلو له خپل هوسه
تامې په بلو مشغلونو خاورې واړولې

حنیفی نه دی ګرم چې کاږی درته سپین په وګر
تایې د خوب په تعبیرونو خاورې واړولې

کابل ۱۳۷۲/۱۰/۳ هـ ش

○

د آشنا د شوندو غرپ اب حیات شو
ځکه مړی د جهان ورته رامات شو

تشنه لب ورته راځی له لرې لرې
شکر لب دیار دلبو په نبات شو

په کوڅه کښې یې پراته دی عالمونه
د بوسې په تمه تمه یې ممات شو

عاشقی د چا دواك خبره نه ده
محمود ګوری له ایازه ځار خیرات شو

قیس مجنون شو دلیلی په محبت کې
کور او کلی په ژوند ونی ترې مرات شو

حنیفی ورځه دسر خیر دې غواړه
رقیبان درته راټول جمات شو

پیښور ۱۳۷۱/۱۲/۳هـ ش

○

آشنامې زلفې راخورې کړې داورزو په څوکو
لکه ماران چې وی پراته دګړنګو په څوکو

عالمه نه لرمه تاب دیار د برندو سترګو
زړه یې زما غلبیل غلبیل کړ دښو په څوکو

زه د آشنا اورنی مینې کړم داور لوخړه
لکه پتنګ چې لولپه شی دلمبو په څوکو

بیایی په سرو باړخو پراته دی د خولو دندونه
لکه شبنم چې وی دیره دګل غوټو په څوکو

همځولومه غواړی لمانه راشه درشه زیاتی
زولانه کړی یم خوبانود کمځو په څوکو

زه (حنیفی) ملامت نه یم چې فریادکومه
د مینې لار ده تیره شوې دازغو په څوکو

کابل ۱۳۷۲/۱۰/۱۰ هـ ش

○

خدای به کړی تیرې د جنګونو شپې
ددې کشتار ددې مرګونو شپې

د اخوت فضا به جوړه شی بیا
تل خو به نه وی د بریدونو شپې

د سولې لړ به مو وطن رنا کړی
نه به وی دا دتور تمونو شپې

یو ځل به بیا شو سره وروڼه ودونه
نه به وی تل دا دګوندونو شپې

تمام هیواد کښې به خوښی خوښی وی
ځی به تیریږی د غمونو شپې

بیا به کابل له خوشالونه ډک وی
ضرور به درومی دویرو نو شپې

بیا به بلبل خوږې سندرې بولی
شی به نابودې د بارونو شپې

بیا به راځی زموږ تاتوبی لره
د (حنیفی) د غزلونو شپې
له پښتور نه باغوانانو ته په موتر کې
۱۳۷۱/۱۱/۱۷هـ ش

○

څومره درانه شول دوخت غمونه
ناړې ناړې دی فریاد ویرونه

هیلې شوې خاورې سیلیویو وړی
ځی کهکشان ته سازه آهونه

وینې بهیږی کلیو کوڅو کښې
راغله تړې ښکته سره سره رودونه

رحم حلال شو عاطفه مړه شوه
له کانو سخت شول دغو ښو زړونه

ګلان تالا شول بلبل شهید شو
مالی به ژاړی تش چمنونه

نه پسرلی شته نه يې لاله شته
سپېرې سپېرې دی دښتې داګونه

حنيفی څه شو ستا کور او کلی
په سين لاهو شول دې اميدونه
پيښور ۱۳۷۱/۱۲/٤ هـ ش

○

خلکه مقتول یم دآشنا د سترګو
د خپلی شوخې دلربا د سترګو

په اندرون زخمی زخمی یمه تول
په مړو کتو دمحبوبا دسترګو

هرڅه یې واخسته له ما ملګرو!
په شوخ نظر او په مسکا دسترګو

عالمه ساتی ساتی زړونه ساتی
چې تښتوی یې په بنکلا دسترګو

دا ځل دکوم مسکین کوډی ورانه وی
په کرشمو او په ادا دسترګو

د (حنیفی) د غزل خوند زیاتوی
دباګرام ترکې په نڅا دسترګو
پیښور ۱۳۷۲/۱۰/۲٤هـ ش

○

ستا په تصور کې هر هر څه راته جانان بریښی
ستا په رنګینیو کې رنګین راته جهان بریښی

ځیر چې شم جهان ته ستا وجود پکې جلوه کوی
ځکه دا مخلوق له خپله ځانه هم را ګران بریښی

ستا بودن شغلې کړی ددنیا په ښایستونوکې
خود به راته ستاښکلی جمال روښان روښان بریښی

ځار شمه قربان شم ستا له واړه کائناتونه
ما ته پکې ستا د رضا لټه ان په ان بریښی

توان د اطاعت او عبادت اوبندګی کړه را
ستا په بندګی کې آینده ښه درخشان بریښی
پیښور ۱۳۷۱/۱۲/٤ هـ ش

○

بیایې کړه جوړه ستا کوڅو کې کربلا کابله
چې اوروی په تامرمی له هرې خوا کابله

دنګې مانی دې شوې نسکورې دباروتو په زور
هم دې له زمکې سوزوی هم له هوا کابله

ستا د بچو په وینو سره شول ستا خیالی باغونه
د ... ده پتا کابله

ستا د ناهید د پټپنونی یې که څیرې څیرې
ستا وارثانو ستا زامنو یو ځل بیا کابله

تالوتوی تا ورانوی تا په توپونو ولی
ته یې بدل کړلې په دښته په بیدیا کابله

د (حنیفی) دزړه کتره درپکې لولپه شوې
ځکه یې شپې ورځې تیریږی په ژړا کابله

پیښور ۱۳۷۱/۱۰/۲۵ هـ ش

○

آشنا و ویشتم د سترګو په نظر بیا
اضافه مې شول زخمونه په ځیګر بیا

په درون تپی تپی کړم کړم شوم
ځکه تویه مې خوناب شول له بصر بیا

نه د هجر تاب لرمه نه دوصل
هر وخت سوزم لکه سپانده په مجمر بیا

څه جادو را نباندې کړی دی ګلرخو
چې ګریږم دم په دم او شام سحر بیا

په یوه غمزه زړګی را څخه یوسی
پسې ګرځم ګریوان پاره در په در بیا

حنیفی خو زړه تقسیم کړ به خو بانو
خود به وی خالی ګوګل خالی تتر بیا

پیښور ۱۳۷۱/۱۲/۵ هـ ش

○

هنګامې دې دښایست ځی تر آسمانه
صدقه د جهان ښکلی شه له تانه

نه دې مثل د سیرت نه د صورت شته
بې له خدایه بالا تریې له هر چانه

په درشل کې دې پراته دی عالمونه
څوك ویده دی څوك نشه دی څوك حیرانه

څوك دې دید پسې ږندیږی په چشمانو
څوك دې وصل کړه کباب لکه پروانه

حنیفی درپسې ژاړی لکه شمه
د فراق اوښکې یې درومی تر ګریوانه
پیښور ۱۳۷۲/۱۰/۳۰ هـ ش

○

هغه لیلی هغه درخو هغه شرینه څه شوه
هغه مجنون هغه فرهاد او هغه مینه څه شوه

اوس خودوکې دی غرضونه دی دمینې په نوم
هغه اخلاص او صداقت اولاره سپینه څه شوه

هر څه خزان کړل د تیری او د شبخون سیلیو
هغه په سوله په امنیت فضا ورمینه څه شوه

شارې کوڅې شار شار داګونه پکې خلك نشته
دوران پغمان ښکلې هوا ښه ګل ورینه څه شوه

بیا(حنیفی) په دا سپیرو سپیرو سپرلو څه وکړی
آه زما مینه په سرو ګلو سره رنګینه څه شوه
پیښور ۱۳۷۱/۱۲/۱۶ هـ ش

○

خدای دې مالری بندي په جال د ترکو
چې په ولیو وړم خاطر او خیال د ترکو

دا انجام د محبت دی په جهان کښې
چې نصیب یې وی آخر وصال دترکو

دا جز به او دا احساس که راسره وو
ما توم به دا د کبر ډال د ترکو

یوه ورځ به د آشنا پالنګ ته خیژم
ځنګوم به جور له څنو تال د ترکو

رانه غواړی رانه غواړی د زړه وینې
چې میوې ته رسومه نیال دترکو

حنیفی په جار ناري وهی ملګرو!
په تندي به ګرځوم وبال د ترکو
پیښور ۱۳۷۲/۱۰/۳۰ هـ ش

○

دا مې پرهر په زړه کې بل جوړوې
چې په نخرو نخرو کا کل جوړوې

نور د زخمو نو تاب راوړلی نه شم
په هره ورځ پکې لس شل جوړوې

زما له سترګو نه خوناب بهیږی
ته له رقیب سره چل ول جوړوې

زما تپونه به ټکور شی ګلې
که زاته وریځې په کجل جوړوې

د بدسګال رقیب به ساو خیژی
چې خپل مین ته خپل څنګل جوړوې

حنیفی پام کړه له نظر نه شې
څومره خواږه خواږه غزل جوړوې

پیښور ۱۳۷۱/۱۲/٦ هـ ش

○

عاشقان به تمام عمر په فریادوی
په ژړابي سترګي سري عمر بربادوی

نه بې خوب وی نه آرام وی نه سکون وی
سرګردان به لکه ژرنده د بلادوی

د هجران له ویرې ژاړی په وصال کښې
دبیلتون سختې شیبې ورته په یاد وی

د آشنا د لیونی مینې د لاسه
سر له غره نه جنګول کوی فرهادوی

د خوښۍ په ځای تمه عمر وخوری
غاښ وتلی په قد کوږ لکه دضاد وی

حنیفی به دیارغم په ملا کړوپ کړی
دعاشق دعمر تله لکه دباد وی

پیښور ۱۳۷۱/۷/۲هـ ش

○

زما د سوی زړه قرار وی هغه څوك
چې گلرنگه گل رخساروی هغه څوك

دتوبې له بریده ماورسره تیر کړی
چې خوب رویه خوش گفتار وی هغه څوك

را تر غاړه کړی زنار د خپلې مینې
چې هم یاروی هم رویبار وی هغه څوك

د کوڅې به یې تر مرگه خاك روبی کړم
چې دحسن خریدار وی هغه څوك

زما سر او مال تړې دواړه صدقه شه
چې د ښکلو منت باروی هغه څوك

حنیفی به ورته ستړگې غورڅومه
چې روان دخدای په لار وی هغه څوك
پیښور ۱۳۷۳/۱۰/۳۰ هـ ش

○

تیر نه وزې دوکه نه شې له مینې نه منکر نشې
پام کوه آشنا چې له آشنا نه مرور نه شې

لویږې به کوهی ته که دمینې لار دې خوشې کړه
ګوره ګوره یاره د کوهی په لاره ورنه شې

هغه زړه دې مات شی چې د مینې پکې کورنه وی
ګډ چې د حسد اودنفرت په سمندر نه شې

راشه یاره راشه چې دنیا د مینې جوړه کړو
نه چې لکه وله بې میوې او بې ثمر نه شې

مینه کې احساس وی وروروڼی وی عاطفه وی کې
هسې جوړ له کانی تښ کالبوت او تش تترنه شې

مینه مینه مینه وی دنیا له مینې جوړه ده
وایی (حنیفی) ګرانه له مینې لاس په سرنشې

پیښور ۱۳۷۱/۱۲/۸ هـ ش

○

زړه مې بيا ديار د تلو له غمه ريږدی
چې په شپه کډې تړی راځخه ليږ دی

همګی وته زما نصيب معلوم شو
څه حاجت دی چې څوك شرط وربانديې کيږدی

که سره زرا وچته ومه خاورې کيږی
نه يوازې مې رقيب په سرا ريږدی

دا دچا سپيره نظر رابانديې شوی
چې هر څوك مې په مری باندې پښيږدی

چې په ښکليو باوروکوم زړه ورکړم
د رنګ ساعت مې په چاودلی زړګی پريږدی

حنيفی په خپل آشنا دومره مين دی
خپلو سترګو کښې يې خاورې د کوځيږدی
پيښور ۱۳۷۲/۱۱/۳ هـ ش

○

تویوم لکه باران د سترګو اوښکې
بیابان په بیابان د سترګو اوښکې

دغه ټول مې د جانان د لاسه وشول
ګرځوم چې په جهان د سترګو اوښکې

یار دپاره د هر چا منت زاری کړم
ورته ورمه آن په آن د سترګو اوښکې

د مجنون کانې به ولې نه راکیږی
چې را رد کړلې جانان د سترګو اوښکې

را روانې شوې ویالې ویالې په ښکته
په لمن او په ګریوان د سترګو اوښکې

د «زهیر» په اوښکو ماهم اوښکې توی کړې
چې یې توی وې په ګیریان د سترګو اوښکې

حنیفی به ټول جهان په اوښکو یوسی
شوې یې بحریې پایان د سترګو اوښکې
پیښور ۱۳۷۱/۱۲/۱۲ هـ ش

○

د یار مینې په ماکړی دا اثر دی
چې را یاد یې ښائسته ښکلی هنر دی

د هنر په پوړو خیژم پورته پورته
پیل کړی مې چې دا رنګین سفر دی

د غزل اسپه مې زغلی ښه په ځغر ده
پوره کړی مې «دیوان» په زیروزور دی

د جهاد دزمانې تکړه زلمی وم
استوګن په پیښور ځای مې لوګر دی

د قلم ژبه مې دومره شوله درازه
چې په شعر مې تاجك پښتون خبر دی

دې خوږې مینې خوږه پښتو را زده کړه
چې پرې خوږ مې د ژوندون واړه دفتر دی

دخوبانو یارانه عزیزول کړی
حنیفی خلکه تمام گوهر گوهر دی
پیښور ۱۳۷۲/۱۱/٤هـ ش

○

راغی پسرلی خود نارنج مشاعره نشته
وران دی ننگرهار پکې د ګلو نظاره نشته

نشته هغه بن چې به سپرلی پکې ګلان توکل
هلته د بلبل او دبورا د سوز نغمه نشته

واړه ګل بنونه د الحاد د اور لمبه شوله
هلته د نارنج او دغاتول د ګل دسته نشته

هلته شاړې ځمکې شاړ ډاګونه شاړ کورونه دی
لا په ننګرهارکې دسپرلی کومه کیسه نشته

لا خوشاعران زمور له ملکه لرې لرې دی
هلته لا تر اوسه د نارنج په ویاړ میله نشته

یادشول (حنیفی) ته پیښور کې د نارنج ګلان
خود یې په غزل کې فریادونه دی خوږه نشته

○

د آشنا د یارۍ تور را پورې شوی
د پردو خپلو پیغور راپورې شوی

د سفر کډې تړم له کلی ځمه
چې تهمت د کلی کور دا پورې شوی

ماله یار څنې یوه بوسه طلب کړه
ځکه دغه تورو پور راپورې شوی

رانه زیښې درګونو توده وینه
د وږدو څنو منګور راپورې شوي

د ققنس په څیر به نن سبا ایره شم
بیا د نوې مینې اور را پورې شوی

دا دچا د مستانه مینې د لاسه
حنیفی نوم د میخور راپورې شوی
پیښور ۱۳۷۲/۱۱/٦ هـ ش

○

چې په خوبانو کې افسر زما دی
یم باوری جام د کوثر زمادی

خپلو همځولو کې سر لوړی ګرځم
چې شهین شا د بحرو بر زما دی

پسا دي بلې وی لمبې ملګرو!
چې مقتدا د جن بشر زما دی

د کامیابی مبارکی راکوی
چې محمد «ص» نبی سرور زمادی

ما د «حمزه» د غزل پل نیولی
څکه غزل شیر و شکر زما دی

زه (حنیفی) په همدې فخر کوم
چې حنفی مذهب بهتر زما دی

پیښور ۱۳۷۱/۱۲/۱۳ هـ ش

○

ساقی پاڅه جام د میو مالا مال را
سره شراب په سرو منګولو د وصال را

مین شوی دې د جام په پیمانو یم
پیاپی جامونه مالړه فلحال را

د عشاقو د محفل شراب خوږه وی
دې شرابونه ګرد خوم پرته له قال را

چې د خیال مرغه مې لاړ شی تر آسمانه
تصور کې د شرین آشنا جمال را

د غمونو له دنیا مې را بهر کړه
په نشو نشو کې بنه نازنین خیال را

حنیفی د محبت په خوب ویده کړه
دی شوګیرنه رب دپاره لږ مجال را

پیښور ۱۳۷۲/۱۱/۱۵ هـ ش

○

زه دیار سترګو نیمکښنو دیوانه کړم
آبادی نه یې روان په ویرانه کړم

په غمز و غمزو یې زړه را څخه یووړ
ور داخل یې په یو درنګ په میخانه کړم

د سرکو شوندو شراب یې را په خوله کړل
په ورو ورو یې ګریوان پاره مستانه کړم

محبت داسې رتبه راکړه وما ته
چې تر ختمه یې دخلکو افسانه کړم

حنیفی بیا د توبې له حده واوښت
زه یې ګان ته ورنیږدې او هم خانه کړم
پینبور ۱۳۷۱/۱۲/۲۰ هـ ش

○

دې سرګردانه ستړی ستړی او ستومانه سفر
دې غم لړلی غم ګپلی پریشانه سفر

ځان سره یووړم د غمونو او دردونو کورته
کباب کباب کړم په لمبو آتش فشانه سفر

ټول دار مدار یې رانه واخسته د سترګو رپ کې
دې توپانی دې تندر خیز او ناپایانه سفر

ما ویل ګل به کړی زمادامیدونو غوټه
دا بې اندوله بې تولې او بې ساربانه سفر

تمام ویاړونه مې لاهو کړلو په سین ملګرو
له فتحې وروسته دې ناوړه دې ناځوانه سفر

اوس (حنیفی) د خپل تالا ارمان په ویر ژړیږی
په همدې مات زړه به کوی تر ګورستانه سفر
پیښور ۱۳۷۲/۱۲/۱ هـ ش

○

زه د ښکلو ناز ادا پر هر پرهر کړم
په ژوندونی یې له مړونه بتر کړم

دوفا په قمه قمه ژوندی پایم
که نه زې کړم کړم تکر تکر کړم

دخوبانو یارانه زهیرول کړی
په څه شان یې په څوانی ابتر ابتر کړم

زه به خود د یار له مینې قربانیږم
چې په لږ وخت کښې یې زه هنر هنر کړم

چې له رویه یې حجاب که لږ څه لرې
په شغلو دمخ یې تول سهر سهر کړم

شوې کیمیا راته دیار دخولې خبرې
حنیفی یې سر تر پا گوهر گوهر کړم
پیښور ۱۳۷۱/۱۲/۲۸ هـ ش

○

دیار مینې په عالم کښې افسانه کړم
څومره زر یې ګریوان څیرې دیوانه کړم

چې دمغ څراغ یې بلې لمبې وکړې
شنه لوخړه یې په څیر د پروانه کړم

تول خمار یم تول نشه یم تول بیهوشه
چې یې مور د سپینې خولې په پیمانه کړم

په سیالانو کې به جګه شمله ګرځم
چې مشهور آشنا په خپله یارانه کړم

حنیفی زما په بخت باندې غفته کړی
چې ساقی سیراب سیراب په میخانه کړم
پیښور ۱۳۷۲/۱۲/٤ هـ ش

○

چې د یار دزلفو بوی مې تر دماغ شی
ټول جهان راته گل بن شی راته باغ شی

که یار زلفې راخورې په اننگو کړی
هغه دم به مې له غم څخه فراغ شی

په رقیب به د سکروټو باران وشی
که دلبر مې په پوښتنه په سراغ شی

که آشنا سترګې راپورته په نخرو کړی
روغ رمټ به مې د زړه د ځیګر داغ شی

حنیفی د حقیقت سترګې رونې کړه
بینا به هر څه درته جوړ څراغ څراغ شی

پیښور ۱۳۷۱/۱/۳ هـ ش

○

## درحمان بابا مشاعره

د آشنا د مينې او راته گلزار وی
چې د وصل پیالې څنگ په څنگ قطار وی

په ازغنه لار به ځم دیار حرم ته
« دا دستور دی چې له گله سره خاروی»

که آشنا مې څه ناڅه پرې خوشالیږی
دجهان غم دې زما په اوږو بار وی

دا زما دیار ښایست پکې جلوه کړی
څومره زیب چې دگلروخو د رخسار وی

د یوسف حسن یې بیلگه د ښایست وو
خو د بې خلك داوطلبه خریداروی

د جهان خوبان به ټول تری صدقه کړم
که مې وس وی که مې توان وي که اختیار وی

کوم صفت بې درته زه کوم ملګرو!
چې او صاف یې په حساب هزار هزاروی

حنیفی خود بابا پیروی وکړه
چې غزلې یې شرینې شکر باروی
پیښور ۱۳۷۳/۱۲/۲۱هـ ش

○

## د رحمان بابا مشاعره

چې د یار دزلفو لومه کښې اسیر یم
تر دا اوسه فریشان دلګیر دلګیریم

هریو کس راته جانان د یار په روی شو
ځکه زه د تولو ښکلو دامن ګیر یم

هره ورځ مې په زړه نوي داغ جوړیږی
خو د به زه لکه بسمل د ځان په ویر یم

قیس مجنون شو دلیلی په محبت کښی
«زه رحمان په پښتو ژبه عالم ګیر یم»

نه مې خوب شته نه خندا شته نه سکون شته
دوصال په تمه تمه تل شو ګیر یم

داشنا د پاکې مینې له شامته
په ظاهره که فقیر خو پټ امیر یم

خوږ زبان شرین سخن شومه ملګرو!
چې پیرو د خپل بابا او د خپل پیر یم

طبیبان مې له علاج څخه عاجز دی
چې وشتلی د باګرام ترکو په تیر یم

راشه راشه(حنیفی) چې سره ژاړو
زه هم تا غوندې په زړه زهیر زهیر یم

پیښور ۱۳۷۲/۱/۲۰هـ ش

○

## ننگرهار ته

زما ګلرنګه ننګرهاره لاله زار دې وې
چې شد وې، درپه کښې اوسی تل بهاردې وې

ستا ورشو ګانې دې رنګینې وی د تل لپاره
د خپل شپونکي خپلې رمې د زړه قرار دې وې

ستا ګل بنونه دې سمسور وي ننګرهاره زما
د بلبلانو د سندرو د چغار دې وې

ستا دنارنج ګلان دې ګل وي پسې ګل وی ګل وی
د هر شاعر د هر اديب زيب د ګفتار دې وې

پس له کلونو نه درځم ستا ګلبنونو لره
د لرې برې پښتونخوا د غاړې هار دې وې

د آزادی بهار دې لمانځو ښه په مینه مینه
د مسلمانو پښتنو د افتخار دې وې
د(حنیفی) د زړه قرار د زړه سکون یې ګرانه
د مینې کور د هر مین د هر مالیار دې وې
تورخم د موتریون ۷۳/۱/۲۲ هـ ش

○

راغی پسرلی زمونږ خیمې لره
بیا د پیښور دښتې میړې لره

بیا یې په خندا نه کړ غاټول زمونږ
نه راوړی خمار مو میکدې لره

بیایې نه کړهار له سرو ګلونو نه
جوړ د شهیدانو هدیرې لره

رایې نه وړه سوله سرو منګولو کښې
دا ځل هم زمونږه حجرې لره

نه راځی سپرلی د افغان کلی ته
ځای یې خوشې کړی دی جګړې لره

شپارس کاله تیر شول په خزان خزان
چاکړی ښیرا موخیل خانې لره

څه له زهرو ډک توپان راغلی دی
بیا د (حنیفی) کلی کوڅې لره
پیښور ۷۳/۱۲/۲۷ هـ ش

○

زړه مې ورك شوی و ملګرو! د لیلی کوڅه کې
ځکه په کړیکو وم د خپلې د لرویا کوڅه کې

نه مې آرام و نه سکون لکه ویشتلې مرغه
سلګی سلګی وم شپه او ورځ سبا بیګا کوڅه کې

ما خو له صدقه زړه ورکړی و خیالی دلبر ته
افسوس رقیب یې پټ ساتلی و په غلا کوڅه کې

زه خبر نه وم چې اشنا د زهر وګوټ راکوی
ایره ایره یې کړم عالمه په والله کوڅه کې

د زړګی مراندې مې غوڅیږی د جفا په چړو
خلکود خپلې نازولې بیوفا کوڅه کې

زما خوانکی هیلي لاهو شوې اباسین په څپو
چې مې دښمن ښوری را ښوری د بابا کوڅه کې

د(حنیفی)په حال مرغان ساندې ویرونه کوي
چې رقیبان یې څکی جامونه د اشنا کوڅه کې
پیښور ۷۳/۲//۲ هـ ش

○

ستړي اروامې په سلګو راځی
چې بیاخزان په پسرلو راځی

شول د چمن ګلونه مړاوی مړاوی
نن یا سبا په رژیدو راځی

خدایز ده چې بیا د چا نظرو خورم
نیلی د بخت مې په ګوندو راځی

راځی ملګرو راتر غاړه وزی
ښامار د مرګ په غږغږو راځی

د (حنیفی) سترګې خوناب اور وی
وینې یې بیا په خوټیدو راځی
پیښور ۱۳۷۳/۱/۲ هـ ش

○

زه د یار د زلفو مشکو مستانه کړم
جام د شونډویې عالمه دیوانه کړم

چې په نازیې کړې را جګې دواړه سترګې
شاهانه نظر یې زه هم شاهانه کړم

چې پردې یې کړلې پورته له رخساره
شنه لوخړه یې په څیر د پروانه کړم

راشه درشه مې زړه نه غواړی ملګرو!
داشنا مینې له خلکو بیګا نه کړم

د دنیا په رنګینو مې پروا نشته
قناعت د زړه په خپله دردانه کړم

(حنیفی) که په صورت پریشا ښکارم
دیار مینې په سیرت جاودانه کړم
پیښور ۱۳۷۲/۲/٤ هـ ش

○

زه دې په درکې لا تر اوسه په سلګو پاته یم
ستا د جفا په تسلسل کښې به ترڅو پاته یم

دلبره زړه دې لا یخ نه دي په کوکارو زما
چاودلی زړه درته ولاړ په زړیدو پاته یم

اوس مې له سترګو نه داوښکو په ځای وینې راځی
لاخو ژوندی دې دوصال په اُمیدو پاته یم

په ما غریب دې د زړه سوی کاسې رادکې نه شوي
چې لاتر اوسه دي محرومه له لیدو پاته یم

نوش کړه پرما د خپلو شوندو کوثری جامونه
ستا په حرم کښې تشنه لبه له مودو پاته یم

آشنا قبولې کړه زاری زاری د خپل حنیفی
ترڅو به بند د بیلتانه په زولنو پاته یم
پیښور ۱۳۷۳/۱/۱۸ هـ ش

○

له سپوږمۍ نه هم روښان يې معلمه
دنجات په لور روان يې معلمه

تا د پوهې شمې بلې کړې نړۍ کښې
رهنما د ګرد جهان يې معلمه

جهالت تېغر دې ټول کړلو له ځمکې
مربی د زوړ او ځوان يې معلمه

ته د علم د عرفان بله ډيوه يې
وړ د قدر دا حسان يې معلمه

د ړندو د لاس امسادتلو مشال يې
ځکه ټولو باندې ګران يې معلمه

خنيفی ته دې قلم په لاس کښې کيښود
خود به ته ورته جانان يې معلمه

کابل ۱۳۷۲/۵/۱٤ هـ ش

○

بیا په میکده کښې څه پیالې وکړیدې
دسترګو په کاسو کښې پیمانې وکړیدې

ساقی چې په محفل کښې کوثری جامونه ویشي
ور مات یې پیمانونه کړل توبې وګډې دي

د ګلوموسم راغی د خزان بوډی ترې تښتی
د پیغلو په اور بل کښی سرې غونچې وګډې دي

د سولې لمر به وخیژی زموږه په خاور کې
چې ښه په وړین تندي ورته سپیدي وګډې دي

لذت لا اضافه شولو د شعر په جهان کښې
غزل د (حنیفی) کښې چې مسرې وکړي دې
پیښور ۱۳۷۳/۱/۱۰ هـ ش

○

زړه مې د آشنا کلی ته ځی راځی
بیا د بیوفا کلی ته ځی راځی

وې کتلې پل په پل کوڅې پسې
نه یې که پیدا کلی ته ځی راځی

اوښکی ورته درنگ په درنگ ډالي وروړی
ژاړی په ژړا کلی ته ځی راځی

نه شولي قبولې د آشنا په در
ستړی نیمه خوا کلي ته ځی راځی

خومره مې نادان زړګی نادان شولو
لا ورته، بیا بیا کلی ته ځي راځی

سوزی(حنیفی) د محبت په اور
ځکه هر سبا کلی ته ځی راځی
پیښور ۱۳۷۳/۳/۲ هـ ش

○

آشنا راکړه راته کوټ شراب د عشق
چې ورننوزم په در او باب د عشق

د خپل عشق له کوثره مې اوبه کړه
تشنګی کړمه کباب کباب د عشق

شیرینی د خپلې مینې را عطا کړه
چې کلام مې شي شیرین په اب د عشق

تخیل راته را اوښنه جانانه
چې پوره کړمه رنګین اداب د عشق

را تر غاړه کړه زنار د خپلې مینې
کړه بندي مې په رسی تناب د عشق

حنیفی دې کاشکې مینه کې ملنګ شي
غزوی به سندریز رباب د عشق

پیښور ۱۳۷۲/۲/۵ هـ ش

○

چې آشنا زلفې خورې په سپين رخسار کا
د مين د زړه زخمونه لاله زار کا

چې کاسې د سترګو دکې کړې له ميو
تول جهان نشه نشه خومارخومار کا

چې غوتې د سترګو پرانيزې چمن کې
له هيبته به تمام ګلان داغدار کا

چې آغاز کاندې خوږې خوږې خبرې
ته به وايې په ګلزار بلبل ګفتار کا

که پردې له مخه لرې کړې په شپه کې
تورتمونه به رڼا سهار سهار کا

د رخسار انوار يې ځې ترکهکشانه
حنيفې ځکه پرې فخر هزار وار کا

پيښور ۱۳۷۲/۲/٦ هـ ش

○

بیا د چا د زړونو ښکار کوي ملګرو!
چې له نازه کوږ رفتار کوی ملګرو!

لکه زرکه په خرام خرام قدم ږدی
چې سیلونه د ګلزار کوي ملګرو!

د چمن ګلان په پانو کی پټیږی
چې ګذر پرې ګلرخسار کوی ملګرو!

دا د چا د سترګو تور د چا دلبر ده
چې شاهان یې دارمدار کوي ملګرو!

چې بلبل د ګل په سرو بار خومین شو
نو ځارنه د بهار کوی ملګرو!

دا دچا د مینې خوند پکې خمیر دی
حنیفی چې خوږ ګفتار کوي ملګرو!

پیښور ۱۳۷۳/٤/۸ هـ ش

○

بيلتانه مې ورانه کړي د زړه خونه
هي توبه شه له فراقه له بيلتونه

د فراق لفمه سر په زنګا نه يم
له چشمانو مي راځی اوښکی رودونه

خوب خندا را څخه وړې بيلتانه ده
راوريږی مې په زړه ديار غمونه

د ځوانی عمر مي تير شو په فراق کې
و مي نه ليده خوښي دا ډير کلونه

د فراق د لاسه سوزم په لمبو کي
يم ماشوم غوندې په کوکو په ويرونه

حنيفی د آشنا جور په سلګو که
ځکه ليکی غم لړلی غزلونه

پيښور ۱۳۷۲/۲/٦ هـ ش

○

ستا د نخرو ستا د غمزو ستا دادا د لاسه
په سر اورونه ګرځوم شام سحر دلبره

د مینې زور دي را معلوم شو زما ګرانه آشنا
لوګی لوګی شوم لکه سپانده په مجمر دلبره

نه د فراق طاقت لرمه نه د وصل وسه
څومره بې وسه کړم ستا مینې نخره ګر دلبره

سترګې مې دکې شوې آشنا اخر د زړه له وینو
ویالې ویالې به شی رابښکته په تتر دلبره

نن یا سبا به شي تازه بیا د (منصور) یادونه
راته جوړیږی غرغرې د زړګی سر دلبره

زه(حنیفی) ګریوان پاره کړم د خوبانو مینې
رانه جوړ شوی کند په غاړه قلندر دلبره

پیښور ۱۳۷۳/۵/۲۲ هـ ش

○

چې راځی په خوب وخیال کې دا زیبا بشر دچا ده
دا چې شپه ورځ پرې زنا ده دا شمس قمر دچا ده

دا چې بره ځی تر عرشه را زو نیاز د ذوالجلال ته
ورونو دغه بې مثاله بې جوړې سفر دچا ده

چې مانی شولي نسکورې په راتلو یې سنګته پورته
دا لارښود د کوم امت دي دا خیالی رهبر د چا ده

انسانیت ورسره راغی عدالت ورسره راغی
په حرم د عبدالله کښې دا ماشوم ګوهر د چا ده

چې کلام مې پرې رنګین دي مزه دار او نمکین دي
حنیفی وایی یارانو پکې پروت خبر دچا ده
پیښور ۱۳۷۲/۲/۷ هـ ش

○

# د خپل شهید ورور طالب العلم نجیب الله(صدیقی) په ویر

بیا د چا د سترګو تور دچا ځیګر مری
بیا دکومې بورې مور د زړګی سر مري

بیا د چا انګړ کې سرې وینې بهیږی
بیا د چا زلمی(طالب) د چا پسر مری

بیا د چا په کور د غم بړبو کي راغله
چې د زړه کتره یې رپ کې د بصر مری

بیا د چا په مرګ د بر پرښتې ژاړی
بیا د کوم کاله شباب په قد نښتر مری

بیا د چا*په خونه ویړ د غم تغر شو
نازدانه د کوم کهول دکوم تبر مري

بیا په سر د (حنیفی)آسمان رالویږی
چې په زړه ویشتلی ورور یې دومره زر مری
پیښور باغوانان ۱۳۷۳/۵/۲۹ هـ ش

○

په سلګو سلګو مې وویل رویبار ته
دا زیون احوال مې ورسوه یارته

د فراق په اور مې تن بدن کباب شو
لا هو شوی یم د هجرا ور او نار ته

د وصال په تمه تمه عمر تیر شو
بوسه کله ورکوي خپل ګنهګار ته

چې زنار یې ستا د مینې شو ترغاړه
حواله یې سر ومال کړ ستا اختیار ته

خوښه ستا ده چې په هر قیمت یې اخلې
شپې په ویښه تیروي ګرانه دیدار ته

حنیفي په غلا مانو کې قبول کړه
چې ورګډ شی د خوږې مینې ګلزار ته

پیښور ۱۳۷۲/۲/۹ هـ ش

○

سترګې د خوبانو څومره شوخې ناغدارې دی
څومره افسون ګرې جادوګرې او مکارې دی

زړونه تښتول کړی په کود ګراو نخر ګر نظر
ډیري بیوفا دي دوکه بازي دي غدارې دي

زړه زخمی کوي دغه عادت د ښکلو سترګو دی
قتل کړی وژل کوي مرګونه کړې خونکارې دي

نه په کې وفا شته نه د زړونو دلداری کوی
دغه شوخي سترګې خدایه څومره جفا کارې دی

ګرده ورځ لګیا وی ښکیلول تا راجول کوی
نه پوهیږم څومره زړه راښکلوته تیارې دی

زړه د(حنیفی) یې خلکه هره ورځ چور کړي دي
ولي دا خونی سترګي د زړونو خریدارې دی

پیښور ۱۳۷۲/۲/۱۵ هـ ش

○

د کاروان دغزل په پله

ستا د لید په تمه ستړي ستومان کړځم
لوغړن په خاورو خړ پریشان کړځم

بیلتانه دي زیات د مړو په حساب کړم
نو څه وشول چې لا زه په جهان کړځم

د فراق لمبو دي سر تر پښو ایره کړم
لا د وصل په آرزو دي دوان کړځم

عاشقی دي ملنګی کړه را په برخه
کند په غاړه ریښکې ریښکې ګریوان ګرځم

خدایزده ښکلو په ما کومي کودي وکړی
چې اوس زه ورپسې بیالالهان ګرځم

حنیفی نه خریدار د ښکلو جوړ شو
لاس په لاس ورسره زه هم روان ګرځم
پیښور ۱۳۷۳/۶/۱۶ هـ ش

○

خداي دي نه کړی څوك مين په بيوفا مخ
بيا به ګرځوی تر مرګه په ژړا مخ

نه يې خوب وي نه سکون وي نه آرام وی
په پريا د به ښکلوی د واويلا مخ

سرګردان به پسی ګرځی ښکته پورته
کور په کور به لټه وی د خپل آشنا مخ

په ژړا ژړا بې سترګې وينې وکړی
و ويه نه وينی ترمرګه د خندا مخ

د جفا شتی بي ښخه وي په زړه کې
ترينه ورك به وي د دم او ددوا مخ

حنيفی د ښکلو ميني نه قربان شو
وويې نه ليدله خوبانو د وفا مخ
پيښور ۱۳۷۲/۲/۱۹ هـ ش

○

داله چا څخه قربان دي زما زړه
چې بي وخته بيا خزان دی زما زړه

چې يوه شيبه قرار موندلی نه شي
دومره دومره سرگردان دي زما زړه

که هزار ځله توبه توبه کا
هم په يار پسې روان دي زما زړه

نه پوهيږم حه جادو ورباندي شوی
چې لمانه گريزان دي زما زړه

د ناصح په نصيحت يې پروا نشته
مين شوي په جانان دي زما زړه

حنيفي ته زور د مينې ور معلوم شو
ځکه وايی چې پريشان دي زما زړه
پيښور ۱۳۷۳/٦/۲٦ هـ ش

○

وروره مهاجره په احتياط وطن ته ځه ورځه
سبنه په هوش او فکر خپل کندر مسکن ته ځه ورځه

لاري شاړې شوي دی کودري شاړي شوې دی
ځه ورځه په ورو ورو شاړ خزان چمن ته ځه ورځه

ستا وطن وژل کوي باروت يې راتوکلي دي
واوره وطنواله کوه سوچ رفتن ته ځه ورځه

غرونه دي که دښتي دي ماينونه پکې پټ پراته
پس له پاکولو بيا دغره لمن ته ځه ورځه

سره ننبنه چې کورې هلته ماين په ننبنه شوی دی
وه شپونکيه وروره! تري نه لږ واټن ته ځه ورځه

هره خوا ګروپونه د ماينونو په تکل کښې دي
واړه به نابود کړي بيا سمسور ګل شن ته ځه ورځه

پيښور ۱۳۷۳/٦/۲۷ هـ ش

○

چې ګرمي وينې کې بهيږی دا دچا کلی دي
چې ناوکی پکې کونديږی دا دچا کلي دي

چې کربلا ده پکې جوړه دا پنځلس کاله
چې سرې ګولی پکې وريږی دا دچا کلي دي

چې کنډوالې شوي ترينه جوړی او د خاورو څلې
چې پسی نور لا هم ورا نيږی دادچا کلي دي

چې پرې بارونه چليدل به له آسمان او ځمکې
چې پرې چليږی لا چليږی دا دچا کلی دي

چې يتيمان پکې ژړا فرياد ويرونه کوی
چې بوري وراري کې زړيږی دا دچا کلي دي

چې مو د پيغلو تورپيکی په کي لمبه لمبه شول
چې اوس لاهم په کي سوزيږی دا دچا کلی دي

○

چې ژبغړا ندي ارزوګاني په کې لولپه شوې
چې پکې هيلي خاورې کيږی دا دچا کلي دي

دملالی پښتون پښونی يې کړځيرې ځيرې
پکې عفت چې لوټل کيږی دا دچا کلي دي

چې د ميرويس، د ابدالی په پت يې لوبې وکړې
چې په وړيا بيه خرځيږی دا دچا کلي دي

زه(حنيفی) په پښتنو پسې لمن ګرځوم
دا چې پردی پګې اوسيری دا دچا کلی دی
پيښور ښار۱۳۷۲/۲/۲۱ هـ ش

O

شوې مې راتوی په ګریوانه کښې ملغلرې اوښکې
څومره تودې دي خدایه دغه مسافرې اوښکې

د یارله هجره مي په مخ کي اوښکو لاري وکړي
امیل امیل مې په تتر ځي لري برې اوښکې

اوښکو د سترګو مي رنګ واخسته د زړه له وینو
خوناب خوناب شوي له قسمته مر وړې اوښکې

ما ژړوی دا خپل نصیب او دفلك نا کردې
ځکه ترخې مې شوې خوږې خوږې شکری اوښکې

زما د هیلو کاروان یوور توپانی سمندر
چې تویه وم پسې له سترګو خیالیګرې اوښکې

اوس گرځوم د سوال لمن په دلبرانو پسې
چې مې په اوښکوباندې توي کړي نخره گرې اوښکې

زه (حنیفی) په زړه غلبیل غلبیل کړم ښکلو د وخت
لایې زما په حال توی نه کړي جادوگرې اوښکې
پیښور ۱۳۷۳/۲/۲۲ هـ ش

○

یو ځل را پورته کړه آشنا بیا جلوه ګري سترګې
پري سرنګونه کړه دا واړه لري بري سترګې

بیا ښې په مینه راته بلې کړه ډیوې د سترګو
په ناز راواړوه دا مړاوي نخره ګري سترګې

واړه محفل به بیا خومار خومار نشه نشه کړي
چې پکې وغړوې سترګې جادوګري سترګې

چې سترګې پورته کړي او وخاندي مسکی مسکی شې
کړم به قربان در څخه خپلې مسافرې سترګې

درپسې توې مې کړه له سترګو نه خوناب دلبره
په خلامې نه کړې ګرانه ستا دا مرورې سترګې

زه(حنیفی) کچکول ترځنګ شومه ملنګ ورپسې
کلي په کلی لټوم ورکي نادرې سترګې
پیښور ۱۳۷۲/۲/۲۶ هـ ش

○

څه شوې اشنا د محبت مینې وفا خبرې
چې درنه اورم غلي غلې د جفا خبرې

ته خوله مینې له وفا له محبته جوړوې
خدایزده چې بیا دې اوریدلی دي د چا خبرې

کوې جفا را سره ګرانه د غماز په ویل
درته کوي چې پتې پتې ناروا خبرې

هغه دمینې د فاوعدې دې هیرې شولې
ته چې کوي اوس نالیدلې نا آشنا خبرې

ستا له جفا نه مي د زړه پرهر ناسور ناسور شو
سبا بیګا در څخه اورم د ژړا خبرې

زه(حنیفی) لیونی کیږم یاره نن په سبا
کړه را آغاز په مینه مینه د خندا خبرې
پیښور ۱۳۷۲/۲/۲۷ هـ ش

○

مینه له ځانه تیریدل دي آشنا ټوکې نه دي
لکه د شمعې ویلیدل دي آشنا ټوکې نه دي

په کي هجران، بیلتون، جفا، فریاد، ویرونه راځی
د ژوند تر پایه کړیدل دي آشنا توکې نه دی

ورسره شته د کور او کلي خپل پردي خبرې
ننګ او ابرو پایمالیدل دی آشنا ټوکې نه دی

خوب وآرام او سکون دري واړه مین څخه وړی
په ویښته شپې سبا کیدل دی آشنا ټوکې نه دی

د مینې لار ده تیره شوې د لمبو په مینځ کې
د لمدو غوښو سوزیدل دی آشنا ټوکې نه دی

گرانه آشنا د مينې ستونځو لره ځان سمبال کړه
د بدن وينې وچيدل دي آشنا ټوکې نه دی

ما(حنيفی) ته ستا د مينې زور معلوم شو ګلی
له خولې نه وينې غورځيدل دي آشنا ټوکې نه دي
پيښور ۱۳۷۲/۲/۲۹ هـ ش

○

لکه منصور په دار ځړیږم دآشنا کوڅه کې
د بیلتانه په اور سوزیږم د آشنا کوڅه کې

خلك راځي له لري لري خپل منزل ته رسی
زه بي هدفه پاته کیږم د آشنا کوڅه کې

خلکو راځی ما بد نصیبه په ډبرو ولی
چې په دیدن پسي ږندیږم د آشنا کوڅه کې

ما د خندا وږمه بشکل نه کړه په دا سپورو شوندو
د ژوند تر پایه به ژړیږم د آشنا کوڅه کې

زه دریښتو ني محبت مینې وفا په تمه
لکه زخمی بلبل ځوریږم د آشنا کوڅه کې

ما (حنیفی) ته د آشنا کوڅه زندان شوه خلکه
د ګنهکار په څیر او سیږم د آشنا کوڅه کې
پیښور ۲/۲۹ /۱۳۷۲ هـ ش

○

جانانه بيا دي څه بلا کړې ده
بيا دي دچا دمرګ سلا کړې ده

خونګاړې سترګې دي مرګونه کوی
پرون هغه او نن دي دا کړې ده

ولي مي وژنې د بنو په غشو
څه مي تقصير څه مي ګناه کړې ده

کړه را وچتې مړاوي مړاوې سترګې
خير دی که مينه مي په تا کړې ده

ستا د نخرو ستاد غمزو د لاسه
شپه ترسهاره ما ژړا کړې ده نا مکمل
پيښور ۱۳۷۲/۳/۱۲ هـ ش

○

بیلتانه مي په زړه جوړ کړل پر هرونه
څکه کړم په زوره زوره فریادونه

په ژړا ژړا مي سترګو وینې وکړې
ګریوانه ته مې راځي خوناب رودونه

د ماشوم په څیر په کوکو یم عالمه
جدایی د لاسه نه راځي خوبونه

طفلکی مینه مي څنګه زړ رسوا شوه
را خبر شول لري لري عالمونه

ماخوازه د محبت لانه وو څکلی
چې را غوړ کړل بیلتانه ترخه جامونه

د شيريني د فراق له سخته تاوه
په لمدو غوښو مي بل شوله اوروند

حنيفی ديار د ليد په تمه تمه
تيروي ورځی لحظی مياشتي کلونو
پيښور ۱۳۷۲/٤/۱۷ هـ ش

○

ربه راوښيه اثر د وينو
د مظلوم کور مظلوم تبر د وينو

کړه په څپو بيوزله ويني خدايه
چې جوړ کړي ځان سره محشر د وينو

چې يوسي دغه ويني څکونکې څيرې
ياغي ياغي کړه رو ګودر د وينو

د استعمار د نابودي په خاطر
را په غورځنګ کړه پت شرر د وينو

درته جيګې درته زاري کومه
په ژوند را ووينه ثمر د وينو

زه(حنيفی) هغه شپې څارمه
چې توپانی شي سمندر د وينو
پيښور ښار ۱۳۷۲/٤/۲۰ هـ ش

○

کابله بل مې شي په سراورونه
چې را په یاد شی ستا کندر کورونه

قدرت طلبو کړلې لوټې لوټې
لا چلوی پټاخونی باړونه

شوې کنډوالې ستا خیالیګرې مانۍ
خزان خزان دي شول ښائسته ګلونه

شاړو کو څوکې دي وحشت حاکم دي
چور چپاول پښې وهي موجو نه

هرځه دي لاړله تا لا ترغه شول
دربانديې راغله خونړی سیلونه

رنگين رنگين شول په مظلومو وينو
ستاسر کونه نازنين واتهونه

ستا(حنيفی) ستا نه لوگي لوگی شه
شه صدقه يې له تاتول شعرونه
پيښور ۱۳۷۲/٦/۱۲ هـ ش

○

لکه دشمې په ګریوان مې اوښکو لاړې وکړې
چې په فریاد فریاد یتیم ساندي بوغاړې وکړې

زه ولیدم اویه کیدم او به شوم ټول اویه شوم
د ا چې د وخت فرعون څه ډول ناچاړې وکړې

وړو وړو سلګو د بوروميې ځیکر پاره کړ
ځکه خو ماله سوزه دکې څو کوکاړې وکړې

یه خلکه راشي دلته راشي دې کندهار وطن ته
وحشی ځواکونو په کې څه ډول ناکاړې وکړې

اوس په کې بل دی د نفاق او خود خواهی اورونه
کلی په کلي د بیوزلو وینو داړې وکړې

د(حنیفی) د شعر ژبه دي الله خوږه کړي
چې په ترخو ترخو الفاظو یې چغاړې وکړې
کابل ۱۳۷۲/٦/۱۹ هـ ش

○

د محمود په څير غلام د خپل آياز شوم
چې خبر د محبت په راز اونياز شوم

مال او سر مې حواله کړلو دلبر ته
د عشاقو په ټولګيو کې ممتاز شوم

په اخلاص اخلاص مې ځان ترې صدقه کړ
نو د بنګلو دمجلس شومه دراز شوم

د آشنا د شوندو غړپ ارزانه نه ده
ځکه زه له سره تير شومه سرباز شوم

راشي راشي را ترغاړه وزي ملګرو!
چې برلاسی په رقيب شوم په غماز شوم

هلي ورشی تول جهان په دې خبر کړی
لارم وصل حقیقت ته په مجاز شوم

حنیفی به د خوبانو پای بوسي کړم
له طفیله یې سرخیل شوم یکه تاز شوم
پیښور ۱۳۷۲/٦/۲٤ هـ ش

○

زما د ژوند ټولې اسرې خاورې ایرې شوې وروڼو!
چې د شهید په وینو بلې دیوې مړې شوې وروڼو!

هغه له وینو ټوکیدلی لاله مړاوې شوله
بیا دیتیم له اوښکو جوړې قافلې شوې وروڼو!

هغه زاړه زاړه ټپونه نور هم وشړیدل
چې مې د خپلو وروڼو خپلوکې جګړې شوې وروڼو!

د کوندو وارو بورو چیغې عرش ته ورسیدې
افسوس افسوس چې دې انسان ته مسخرې شوې وروڼو!

باغونه لوټ ګلان تالا شول بلبل لاړ په چیغو
زمور په برخه څومره ستړې سانحې شوې وروڼو!

حنیفی ژاړې ژاړې ښه په چیغو چیغو
توی یې لمنې ته له سترګو نه ویالې شوې وروڼو!
کابل ۱۳۷۲/٦/۲۸ هـ ش

د بهایی جان دغزل په پله

دا به زمکه دا آسمان وی مورِ به نه یو
دا به غر دا به دامان وي مورِ به نه یو

د شپیلی آواز هغه خوشپون په بل وی
زمزمې بې آن په آن وي مورِ به نه یو

ګلالیِ سنبلې به نورې وی رالویې
سنائسته به پرې جهان وی مورِ به نه یو

غږوی به پرې بلبل خوږې سندرې
تو کیدلی به ګلان وی مورِ به نه یو

په غاټول‌به رنګینه وی دښتی غرونه
هم به دا کلی ودان وي مورِ به نه یو

د زړو یارانو کډې به وی تللې
نوی نوی به یاران وي مونږ به نه یو

حنیفی وایی خوږې خوږې غزلې
ترینه پاته به (دیوان) وي مونږ به نه یو
کابل ۱۳۷۲/۷/۷ هـ ش

○

«دلبره وکړه لږ نظر په ګدایانو خپلو»
په لوڅړنو ببر سرو ملنګانو خپلو

درته پراته دي په کوڅه کې دې په ډلو ډلو
نوش کړه لبان په تشنه لبو عاشقانو خپلو

د زنکدن سلګۍ وهی ستا د فراق د لاسه
باران د وصل اوروه په تشنګانو خپلو

شو صدقه مې مال او ځان زړه او ځیګر لتا نه
دا قربان مي کړه قبوله په لبانو خپلو

ترڅو به ژاړم ستا کوڅه کښې د دیدن په تمه
حجاب کړه لرې رب د پاره له چشمانو خپلو

ګرانه منم چې مهربانه او زړه سوانده یې ته
له حده ډیر ډیر په بیوزله (حنیفیانو) خپلو

کابل ۱۳۷۲/۷/۱۰ هـ ش

○

که دلبر له مخه لرې بیا نقاب کا
په شغلو د مخ به خپل مین کباب کا

د محبوب دیدن آسانه چاره نه ده
مګرکاني وي چې درنګ ساعت به تاب کا

هنګامې یې دسایست په درست جهان دی
خو د به سترګې د عاشق د وینو آب کا

د یوسف حسن به ځان ترې صدقه کړی
که یو ځل مې آشنا زلفې پیچ وتاب کا

نه یې مثل نه یې سیال شته په عالم کې
خوب رویان د جهان ځکه تري حجاب کا

حنیفی به هلته ټول نشته نشه شی
که د یار د لاسه نوش د میو ناب کا

کابل ۱۳۷۲/۷/۱۶ هـ ش

○

د فراق د لاسه سوزم په لمبو بيا
يم تړ لي د بيلتون په زولنو بيا

زماني يم له آشنا نه لرې وړې
غولوی مي د درواغو په وعدو بيا

نه مي لاس تر ياره رسي نه مجال شته
له همځولو پټ پنهان شوم په سلګو بيا

دا فلك دي چې يې لرې کړم له ياره
ځوروي مې کړوي مې په ورو ورو بيا

که مي يو ځل د آشنا وصال نصيب شو
خورم تالونه بې ترمرګه په کمځو بيا

حنيفي ديار جفا زخمی زخمی کړ
روغ به نه شي اوس په دم او په دروبيا
کابل ۱۳۷۲/۷/۱۹ هـ ش

○

لړې تورې تورې سترګې ناغدارې
توري زلفې په رخسار پرتې ابدارې

عاشقان دي په کوڅه کې په سلګو دی
په فریاد فریاد وهي کوکې بوغارې

د ښایست آواز دي خپور دي په عالم کښې
خدای درکړی څومره سی سترګې خومارې

سرحلقه یې د خویانو په ټولی کې
ځکه زماله سترګو اوښکی وهي دارې

د ابرو په تیغ دې غوڅ کړم کړم کړم
په ټټر مي وینې راغلې لاړې لارې

حنیفی به صدقه شي لټا یاره
که ورواړوې دا مړې سترګې خونکارې
کابل ۱۳۷۲/۷/۲۲ هـ ش

O

الهی له مینې دك زړه په تټر را
خوې خصلت د خپل حبیب نبي سرور را

د حضرت محمد په روی وا خدایه
خپله مینه باندې ګرم تود ځیګر را

چې احساس مې په موجونو په څپو شی
داسې حس داسې لیده داسې نظر را

ستا په ذکر چې مشغول یم لویه خدایه
داسې ورځ او داسې شپه داسې سحر را

چې باطل ته مې سر ټیټ نه شی خاونده
شجاعت او متانت د خپل حیدر را

ما بنامی دي لاس مې لوړ درته نیولی
په محشر کي ربه جام د حوض کوثر را

حنیفی درته زاري کوم خاونده
ستا طرف ته مطمئن تګ او سفر را
کابل ۱۳۷۲/۷/۲۳ هـ ش

○

څه مو غوښتل څه راوشول لويه خدايه
د نفاق په لمبو وسو سرتر پايه

د شهيد وينې مو لاندې تر پښو شوې
جهادی کاروان مو تم شو لوبې ځايه

د ګوهر په ځای مو خاورې کړې تر لاسه
د دښمن نيرنګ دوکه کړلو اشنايه

د ملت هيلې مو ورکړلې په جسو
تش لاسونه را بهر شو لوله سرايه

راشی راشی چې دوکې خپلې جبران کړو
بقايا د کمونيزم کړو خنثا يه

حنيفی چې ملامت نه شی تاريخ ته
ښه په داګه ښه په نره ورته وايه

کابل ۱۳۷۲/۷/۲۸ هـ ش

○

«ولې به نه ژاړم تا لا تالا شوم»
خپل او پردی ته د خندا خندا شوم

ټول ارمانونه مې په سین لاهو کړل
د شهید وینو ته بلابلا شوم

لوړه شمله مې کړه په خپله ښکته
وړ د پیغور وړ د جزا جزا شوم

«خلکه را پاڅې ما په کانو ولی»
خپلو ویاړونو ته وبا وبا شوم

د خپل عظمت څلي مې ونړول
ورته چینجې ورته وینا وینا شوم

حنیفي وایی راته وایی په ډاګ
زه ددې ټولو په ریښتیا ریښتیا شوم
پیښور ۱۳۷۲/۸/۱۰ هـ ش

○

د خوښۍ مرغه مې بند په زولنو شو
چې نفاق مې په ملت کښې په څپو شو

زما هیلې د سحرا بړبو کې یوړې
د جګړې نیلۍ مې بیا په کاله چو شو

د یتیم اوښکې به ولې نه بهیږی
چې د پلار روح یې لحد کې په سلګو شو

داولس وینې مو خدایه هدر درومی
چې جهاد مولاړ بدل په جنګ جګړو شو

شوه شهیده بیا د سولې مرغۍ ورونو!
چې جنګونه د قومونو د ګوندو شو

حنیفی سبا بیګا الله ته ژاړه
ووړاو زوړ دي زړه بایللی په نوتو شو
پیښور ۱۳۷۲/۸/۱۱ هـ ش

○

ته مې روح یې ته مې زړه یې ته مې ځان یې
ته زما افغانستان یې ته زما افغانستان یې

تانه ځار تانه لوګی شم تاته دود او سپیلنی شم
ته له ځانه راته کران یې ته له ځانه راته ګران یې

تا به جوړ تا به آباد کړم دخپل سر به بیه بیابیا
خپه نشی خپه نشی خیردی خیردی که اوس وران یې

زه افغان یم زه افغان یم تا روزلی مسلمان یم
ته مې کور یې ته مې ګور یې ته مې مینه ته جانان یې

خپل ایمان په تامین کړم ځکه سر درباندی ږدمه
زه مجنون ته مې لیلی یې زه بورا یم ته ریحان یې

په سرو وينومي آزادکړې په سروويښوبه دې ساتم
ته دهر افغان ځيګر يې ته د هر افغان چشمان يې

حنيفي درنه قربان شه په سل ځله په سل واره
ته تا ټوبی د مؤمن يې ته وطن د مسلمان يې
پيښور ۱۳۷۲/۸/۱۳ هـ ش

د یو سپیڅلی مقدس هدف په لوری خدایه
ما په تیارو او ګړنګونو کې مزل کولو

په ګران وطن کښې ستا د حکم د نفاذ د پاره
الهی ما له سره طاغوت سره تټر وهلو

د بیدینی، وحشت، فساد محو کیدو په هیله
سبا بیګا به ستا دربار ته مازار زار ژړلو

د سولې امن آزادی او خپلواکی په خاطر
به مې خاونده سنګرونه تل تاوده ساتلو

لکه چې لاړه هرڅه لاړله برباد برباد شو
په جنګ بدل د (حنیفی) دکور جهاد جهاد شو
پیښور ۱۳۷۲/۹/۱ هـ ش

○

په زړه مې اوری نامرادې هیلې
دغه مهجورې او بربادې هیلې

په کور مې راغلې د وحشت بړیو کی
تالا ترغه مې شوې نوزادی هیلې

روه داری د خلکو نشته پرما
چې نړوی مې نو بنیادې هیلې

ما حنیفی دا خپل نصیب ژړوی
چې خاورې کیږی مې آزادې هیلې

کابل ۱۳۷۲/۹/۱۰ هـ ش

○

بیا دې د شوندو د مسکا خبرې چاته وکړم
بیا دې د ناز او دادا خبرې چاته وکړم

بیا دې د سترګو د عمزو د لاسه څه ووایم
بیا دې د ښکلی مخ زیبا خبرې چاته وکړم

بیا دې ښایسته بشر په کومو تورو وستایمه
بیا دې د حسن او ښکلا خبرې چاته وکړم

بیا دې په کوم صفت تکورکړم د خپل زړه داغونه
بیا دې د انس او د وفا خبرې چاته وکړم

بیا مې ستا مینه د ماشوم په څیر پټ پټ ژړوی
بیا ستا د مینې د رینستیا خبرې چاته وکړم

بیا(حنیفی) داپټ رازونه څنګه لوڅ کړم آشنا
بیا دې په بربنډه وینا خبرې چاته وکړم
کابل ۱۳۷۲/۹/۱۱ هـ ش



ته چې خال دلبره بیا په سپین جبین ږدی
د مین په زړه داغونه آتشین ږدی

بیا د چا د زړونو ښکار کوې دلبره
چې په باغ کښې قدمونه نازنین ږدی

بیا په خټه نیت راوتلې یې له کوره
بیا د کوم مسکین په ستونې پل سنګین ږدی

د جهان ښکلی به تانه صدقه کړم
که قدم زما د کلی په زمین ږدی

یو دې مثل جوړه نشته په دنیا کې
بل ګلونه په اور بل کې چین په چین ږدی

حنیفی دې سپیلنې شمه له حسنه
چې لذت یې په غزله کې شیرین ږدی

کابل ۱۳۷۲/۹/۱۳هـ ش

○

یو وړې اوبو راڅخه یووړې غم ځپلې هیلې
په کوم ګودر به لټومه اوبو وړې هیلې

د چا د شوم نظر په اور کې مې لوګې لوګی شوې
په تاړاکونو ستړې ستړې کړیدلې هیلې

زما د ویاړ نښې راورانې کړلې خپلو وروڼو
ځکه مې خاورې شوې ایرې شوې ویرژړلې هیلې

د هیلې ځای مې پاته نه شو په تمام جهان کې
چاته به ورمه دا مهجورې ترهیدلې هیلې

ټول امید ونه مې تالا تالا ترغه ترغه شول
تشې کرسۍ نه شوې قربان زما سپیڅلی هیلې

ما(حنیفی) دغه کړدې لکه ماشوم ژړوی
چې په یوه دوبۍ برباد کړې زما ستړې هیلې
کابل ۱۳۷۲/۹/۱۸ هـ ش

○

وسوم په لمبو کې ليونې مينې
ستاشوخې شلاخې غرځنې مينې

نۀ لرمه تاب دهجر نۀ لرم
ولې مې سيزې په اورنې مينې

کاشکې دې په درکې وای نوکر آشنا
وی خوږې شيبې دپرونې مينې

يو ځل درنه ټول صدقه شوې وی
حق به وادا د(منصورې)مينې

اوس مې رالنډ کړی پر اوونه دې
ستا د دې سپيځلې پستنې مينې

وکړه لږ نظر د(حنيفی) په لور
څرنګه رسوا که ننني مينې
کابل ۱۳۷۲/۹/۱۹ هـ ش

○

د فراق غیسی دي بیا په زړه محکم خورم
که پیالې له زهرو ډکي دم په دم خورم

ستا دهجر د شیبوپه تسلسل کې
زه دګل غوندې ځوانی په صبح دم خورم

ستا د سترګو په کاسو کې ګرانه یاره
بیا به څه وختې شراب ستا د حرم خورم

دغه ستا د لیوني مینې د لاسه
د زړه وینې هرسبا لکه شبنم خورم

د رقیب جنازه ووته له کلی
په رنا ورځ به خولګی د خپل صنم خورم

چې رینبتیا د (حنیفی) دخوب تعبیر شو
اوس بورا رنګه ګلونه چم په چم خورم
کابل ۱۳۷۲/۹/۲۱ هـ ش

○

بیا دې ماته دسیزلو مجمر جوړکه
چې اور بل دې په نخرو په هنر جوړ که

دا دوصل ورځ په منډه منډه لاړه؟
اوکه تا په لمر خاته مازیګر جوړ که

چې په ناز او په خرام خرام روان شوې
روغ جهان دې راته ګرانه سفر جوړ که

رب دپاره رب دپاره یو ځل راشه
بیلتانه مې په پرهر کې پرهر جوړ که

پس له مرګه دقیامت قیام ویل شو
ستافراق راته په ژوند کې محشر جوړکه

زه گرم نه وم چی ژړل مې له اول نه
رقیب ستا په لمسه ځان پیغمبر جوړکه

طواغیت به له پلوه پکې غرق شی
حنیفی اوښکو دنیل سمندر جوړ که
پښور ۱۳۷۳/۹/۳ هـ.ش

د خانګل(خلیل) د غزل په اقتفا

پاته نه دي په چمن کښې ګلان تل تل
ځکه اورم عندلیب نه فِغان تل تل

د جرس آواز مې هرساعت تر غوږ شی
ځي په دې لاره تیریږی کاروان تل تل

لا هنوز هم دوکه کیږمه ملګرو!
چې نه زه یم نه دا نور په جهان تل تل

لکه پرخه تاب د څرك راپکې نشته
لا دحرس په نیلی سور یم روان تل تل

شاهانه کپړې لاندې شوې تر خاورو
زه په دی توره نیښتی یم خندان تل تل

حنیفی د غفلت سین په مخه یووړې
ځغلوی به دي ترمرګه دوان تل تل

پیښور د شپې ۱۲ بجې ۱۳۷۳/۸/۷ هـ ش

○

راشه بیوفا دلې ترخوا زما زیبا صنم
لږ وکړه نظر په بینوا زما زیبا صنم

گشته ام حیران درین یاری، تو ظالم چرا
نه لرمه توان دکړیدا زما زیبا صنم

گشته ام اسیر مثل طوطی بدام زلف تو
گیر دې په دامو کړمه په غلا زما زیبا صنم

گشته ام پرخون مثل مجنون نداری تو نظر
گرځې بې پروا مدام جلا زما زیبا صنم

گشته ام بی هوش ندارم هوش چه کنم چاره را
کړمه لیونی دیرې سودا زما زیبا صنم

گشته ام بریان درین دنیا نه کردم عیش را
گرځی«حنیفی» مسکین تنها زما زیبا صنم

لوگر

○

څه شوه دپښتون ډپښتانه هغه زړه پښتو
هغه ننګیالی او توریالی او پښتنه پښتو

اوس خو دپښتو یوازې نوم پښتون ته پاته ده
لاړه لرې لاړله دبیټ نیکه خوړه پښتو

بیا به کله راشی مروره تریشه تللې ده
نه راځی بیانه راځی په بیرته په ستنه پښتو

دې په نوم پښتون دپښتو دنګه شمله بښکته کړه
لاندې سشوه ترخاورو په معیار په تول پوره پښتو

نن سبا چلیږی دپښتون په کور او کلی کې
ډګه له ټیرنګه له چل ولا دوګه دوګه پښتو

ګرځی «حنیفی» ورپسې کور په کور په ګلیو کې
نه یې کړه پیدا له ننګه ډکه نارینه پښتو

پښور ۱۳۷۳/۸/۲۳ هـ.ش

# اورپورې شو

راغې خزان په بهارونو باندې اور پورې شو
په دنګو دنګو چنارونو باندې اور پورې شو

د اور سيلۍ وې چې راپه شوې دشمال له لورى
په کلى کور کو څو راغونو باندې اور پورې شو

د وخت نمرو دمو تمام شته په اور لمبه لمبه کړه
اشجار لا څه په چمنو نو باندې اور پورې شو

غرا و دامان دښته ميره په اور کې لولپه شوه
په پلنوپلنو شنو داګونو باندې اور پورې شو

سنځله وسوه ځکه نه راوړې ژيړى ګلونه
د انګور بوټى په تاکونو باندې اور پورې شو

ريدې زخمې شو د لاله له زړه نه وينې څاڅى
په سحرايې خو د روګلونو باندې اور پورې شو

نه پسرلی شته نه غاړول شته نه باغچې د ګلو
په شنو سمسورو چمنونو باندې اور پورې شو

مالی په چیغو چیغو ژاړی خپل تالا باغونه
په ګل رنګینو شنو باغونو باندې اور پورې شو

شاهین چاودلی زړګی لاړله آسمان څکو څوکو
چې مو په جګو لوړو غرونو باندې اور پورې شو

بلبل داغلی زړګی ګرځی پخزان وطن کې
چې په تمامو ګل بنونو باندې اور پورې شو

نه مو کوچی شته نه کیږدی شته نه شپیلې د شپنو
په ورشو ګانو او کڅونو باندې اور پورې شو

اوس موکو چې د پیښور ګرموکې مړاوې مړاوې
په یخویخو ایلندونو باندې اور پورې شو

نه یې کاروان دکډو شته نه یې بغ بوغ درمو
په رمو اور په کاروانو نو باندې اور پورې شو

کورونه وران کوځي ویجاړي کلي ږنګ پراته دی
په بازارونو په ښارونو باندي اور پورې شو

چې به دیدن د عاشقانو پرې کیده ملګرو!
اوس په هماغو ګودرونو باندې اور پورې شو

مین به چیرې لټوی خپله پردیسه لیلی
چې د وصال په اخترونو باندې اور پورې شو

ځوک پاکستان ته ځوک ایران ته ځوک په بله لاړه
کلو باندو په دیارونو باندې اور پورې شو

اوس به بورا د چا له شوندو نه مچکې اخلی
چې دګلاب په سرویاړ خونو باندې اور پورې شو

بیا به شبنم د ناز خوبونه کړي د چا په غیږ کې
چې د غاټول په اندامونو باندی اور پورې شو

د افغانانو آرزوګانې شوي د اور لوخړه
د (حنیفی) په امیدونو باندې اور پورې شو

پیښور ۱۳۷۲/٤/٤ هـ ش

# طنز

لوي شومه رالوي شوم په تيری يرغل بريدونو کې
اورم په مرګونو کې رااورم په خوندونو کې

زه هغه اتل يم چې تراوسه لاجنګونه کړم
هغه پهلوان يم چې په خپل ولس بريدونه کړم
ګوري راته ګوري خُه په درز او غرب مرګونه کړم

نه د چا منم قوت مي شته په راکټونو کې
اورم په مرګونو کې را اورم په خوندونو کې

نه کښينم آرام ترڅو دا پاته وطن وران نه کړم
يايي چې بدل په هديره او قبرستان نه کړم
يا په خُلور برخو سره بيل افغانستان نه کړم

لري شي له مخي بم درورم په جهازونو کې
اورم په مرګونو کې را اورم په خوندونو کې

زه خو قهرمان! یم جنګیدل راته آسانه دی
ته مطمئن اوسه ورانیدل راته آسانه دی
جنګ په ښه هنر کړم بیلیدل راته آسانه دی

ښې غټې وسلې راسره شته په ګودامونو کې
اوړم په مرګونو کې را اوړم په خوندونو کې

ډیره موده وشوه چې زه چور او چپاول کوم
روغ رمټ ټانګونو نه کبار تیارول کوم
لوی میلی تجار شوم چې د وسپنې پلورل کوم

شپه ورځ مې تیریږی په مزو او په خوندونو کې
اوړم په مرګونوکې رااوړم په خوندونو کې

اوس خومونږونه لنډکروزر او ټیوټا لرم
ښی ډیری پیسې ښه خوراکونه مربا لرم
څه د کونډو و بورو د یتیم معیوب پروا لرم

UNDA

شپه زما برات وی ورځ کړم تیره اخترُونو کې
اوړم په مرګونو کې را اوړم په خوندونو کې

تل دې زنده باد وی!! دا څوتنه د نفاق څیرې
دا د مرګ او ژوبلې د جګړې او دشقاق څیرې
زه خوبې باچا کړم وی دې تل دا د فراق څیرې

هیڅ کمبود مي نشته د دنیا په نعمتونو کې
اوړم په مرګونوکې رااوړم په خوندونو کې

نه غواړم یووالی وروروڼی اتحاد نه غواړم
سوله کراری او آبادی د هیواد نه غواړم
تل دې ګډوډی وی ختمیده د فساد نه غواړم

وخت مي ښه تیریږی په دا خپل مینځی جنګونو کې
اوړم په مرګونوکې را اوړم په خوندونو کې
پیښور ۱۳۷۲/۱۰/۱۹ هـ ش

PROPERTY OF ACKU 5556

# د شاعر آثار

۱-(څړيکې) د شعرونو مجموعه چاپ.

۲-(پرهرونه) د شعرونو مجموعه چاپ.

۳-(وينې او اوښکې) د شعرونو مجموعه چاپ.

٤-(د ملا اسد الله «حنيفی» ديوان) چاپ.

٥-(څړيکې او پرهرونه) غوره اشعارچاپ ته استول شوی.

٦- (ملغلری) د شعرونو مجموعه چاپ ته تياره

۷- (دسحرا گلونه) د شعرونو مجموعه چاپ ته تياره.

۸-(ريښتونې کيسه) مثنوی چاپ ته تياره.

۹-(دگودرمازيگرونه) دشعرونو مجموعه چاپ ته تياره.

۱۰-(مړې ډيوې اوبووړې هيلې) ستاسو په لاس کې.

ځی ديو والي لاره ونيسو علم واخلو
واعتصموا فرمان له ځان سره محکم واخلو
کلی په کلی کور په کور دغه آواز خپور کړو
راځی راځی دوروروڼو په لور قدم واخلو

۱۳۷۱/۸/۲۰ هـ ش